
هيلي
Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب پېژندنه

ناول........................................................ ناهيلي

ليکوال.................................................. نيک محمد بارک

د کتابونو او ناولونو په لړ کي .................. ۱۰

کال.................................................... ۰ /۱۴۰۲/۷

اړيکه.................................................. ۰۷۰۲۱۱۰۳۷۱



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لیکوال خبرې

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم

بسم الله الرحمن الرحیم

یو وار بیا د الله جل جلاله ډیر شـــــکرونه ادا کوم چې ددې وس توان او توفق یې را کړ چې د ځوانـانو او مینوالو لپـاره د ژونـد تکلاره د ناول په ژبه وښیم.

لکـه څنګـه چې مې مخکې نـاولونو کې هم یـادونـه کړیـده چې د مېنوالو مینه، تشـویق او سـتاینه او غوښـتنه وه چې یو وار بیا قلم را واخلم او دوی تـه نـاول ولیکم، نو ځکـه مې کـال مخکې د دوو نـاولونو د لېکلو نیت وکړ چې یو د نـاهیلي پـه نوم ناول وو او بل د شـمشـیر په تیارو کې ناول وو چې د همدې کال په جریان کې مې دواړه د الله جل جلاله په مرسته او توفق سرته ورسول.

پـه دا نـاول کې مې د نورو ناولونو پخیر هم تول هر هغه اړخونه په نظر کې نیولي دي چې د اوســنیو ځوانانو په پوه کول اړین او ورتــه اړتیــا یې ده د مثــال پــه ډول ژونـد، کــاروبــار، اړیکې، خپلوي.....

- په ناول کې د کندهارۍ لهجې څخه تر ډیره حده استفاده سوېده هیله ده چې مېنوال باندې پوه ســې ځکه زه ادیب لیکوال نه یم نه مې پښـتو ادبیات ویلي دي چې ناولونه په معیاري پښـتو ولیکم او نه مې هم تر ډیره حده د داسې چا سره ژوند کړیدی چې معیاري پښـتو دې وایې نو ځکه مې د امکان تر حده معیاري پښـتو لېکلې ده خو شاید ځنې ځایونه ګډه وډه یې د مثال په ډول د (وکړ) لغات په کندهارۍ لهجه کې(وکی) لیکل کیږي او ویل کیږي د (وکړو)



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

لغـات (وکو) ليکل کيږي د (وي) لغـات پـه (يي) ليکـل کيږي او ويل کيږي همدارنګه ځني نور لغاتونه دي چي په نورو لهجو کي د کندهارۍ لهجي سره فرق کوي ما دا لغاتونه تر يو حده معياري ليکلي دي خو کومو ځايو کي چي په کندهارۍ لهجه ليکل سويدي شـايد ورته پام سـوی مي نه وي يا هم د نورو لهجو څخه ناخبره يم چي هلته کومه معنا لري.

- لکه څنګه چي مي مخکي ناولونو کي هم يادونه کړيده دلته بيا هم يـادونـه کوم چي کـه زمـا نـاولونو کي کوم اشـــتبـاهـات وي د اصـــلاح لپاره يي را ســره په تماس کي ســی ســتاســو همکاري د اشتباهاتو په اصلاح کي زما ناولونه تر لوړي پوړي رسوي او د هغو ورونو او خويندو مننداوی يم چي مخکينيو ناولونو کي يي په اصـــلاحاتو کي همکاري را ســـره کړيده په خاصـــه توګه د اغلي مســـلېمي اڅکزۍ څخه چي د ناول لېکلو قوانېن يي راته ښـــوولي وه.

ستاسو د بريا په هيله

نيک محمد بارک



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ناهيلي

زيد خپل د سفر بسته تیارول او د سفر لپاره يي امادګي نيول چي په دي وخت کي يي پلار اطاق ته وراغلی زيد ته يي وويل: زويه ته بيا هم فکر وکه ايا رښتيا هم غواړي ولاړ سې؟

زيد وويل: هو بابا.

پلار يي وويل: زويه ما هر وخت ستا ضد ته ماته راوړېده او ستا هر ضد مي در پوره کړيدی خو دا ضـد دي ماته ډير سـخت دی زما ژوند به بيله تا نيمګړی وي.

زيد وويل: ما وبخښـه بابا خو که زه دلته پاته سوم نو ژوند به مي ډير تنګ ســـي زما خير په همدي کي دی چي ددې هيواده ليري ولاړ سم.

پلار يي تر څو شېبو وروسـته وويل: سـمده زويه چي څنګه ستا خوښه وي.

زيد د سـفر بسـته تياره کړل او د اطاق څخه د پلار سـره يو ځای ووتـی.

پلار يي وويل: زويه زه او ورونه دي تر هوايي ميدانه رسوو.

زيد وويل: بابا تاســـو تکليف مکوی موټروان ســـته هغه به مي ورسوي.

د زيد ورونو وويل: يا زيده موږ در سره ځو.

زيد وويل: سمده.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروســـته ټول په موټر کي کښــينســـتل او مخ د هوايي ميدان پر طرف روان ســول، زيد خپل ســر د موټر پر چوکۍ لګولی وو او په سوچو او فکرو کي غرق وو چي تر څو شيبو وروسته هوايي ميدان ر ا ورسيدی ټول د موټر څخه کښته سول، کله چي هوايي ميدان تـه ننوتـل زيـد خپـل پلار تـه وويـل: بـابـا زه بـه د پرواز معلومات وکم.

زيد د معلومـاتو څـانګي ته ورغلی خپل پاســـپورټ او ټکيټ يي خدمتګار ته ورښـکاره کړل خدمتګار وويل: وبخښی صاحبه د يو ســاعت لپاره انتظار وکړی ســتاســو د ســفر طياره لړ تخنيکي ســتونزه لري کار پر شــروع دی چي ترميم ســول موږ به ږغ درباندي وکړو تاسو په انتظار ځای کي په تمه سئ.

زيد وويل: سمده.

زيد د ورونو او پلار ســره ســتونزه شــريکه کړه ټول په انتظار ځای کي کښـينسـتل انتظار سـول تر څو شـيبو وروسـته زيد ولاړ سو او وېويل: بابا زه تليفون کوم بيرته راځم.

زيد د پلار او ورونو څخه څـه ليري ســـو بيا يي تليفون د جيبه راوکښـی د نمبرو ليسـت يي راوسـتی او د مسکان په نوم نمبر يي پيدا کړ تر څو شيبو پوري نمبر ته په کتو او فکر کي وو وروسته تر څو شـــيبو يي د اوکي پر بټن ګوته کښـــيکښـــل او غوږ ته يي ونيوی، مســـکان پر کټ ناســـته وه تر ســـترګو يي مړاوي مړاوي اوښـــکي رواني وې او په فکر کي ډوبه وه چي تليفون يي زنـګ ووهلی کله چي يي تليفون راپورته کړ نو وېليدل چي د زيد زنـګ وو، تر څو شـــيبو يي تليفون تـه کتـل وروســـتـه يي د اوکـې بټن



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښــــیکښـــــې او غوږ ته یي ونیوی او په ژړغوني ږغ یي وویل:
بلې!

زید د مســکان د ږغ په اوریدو د دردہ ســترگې پټې کړې څه یي نه وویل مســــکان بیا ږغ پر وکړ او په ژړغوني اواز یي وویل:
بلې !

خو زید بیا هم ږغ نه کوی بیا یي تر څو شــبېو وروســته وویل:
مسکان! ....زه هوایي میدان کي یم دا هیواد پریږدم او د تل لپاره ځم که کولای سې د اخیر وار لپاره را سره ووینه هیله کوم!

مسکان هم د درده په اوښکې ډکې سترگې پټې کړې بیا یي وویل:
ولي ځې؟

زید وویل: د ولي جواب نلرم بس دا اخیري غوښــــتنه مي ومنه غواړم د تلو مخکې دي یوار ووینم.

مسکان په ژړغوني ږغ وویل: سمده زه درځم.

زید وویل: مننه.

وروســــته یي تلیفون بند کړ لاس یي د ترمینل پر هنداره ونیوی سړه ساه یي وکښل او خپل خندرویه وختونه یي ورپیاد سول کله چي زید پیدا سو نو د ډیرې شوخیه یي د خدمتگارو قابلو لاسونه تینگ نیولي وه هغو په خندا یو و بل ته وویل: دی به ډیر شـــوخ هلک جوړیږي اوس یي لا دا دی د انجونو لاس ونیوی هاهاها.

زید چي کله د لسو کالو سـو نو د همســایه د انجونو سـره به یي ډیره شــوخې کول او هغوی به هر وخت دده مور ته په شــکایت ورتلې.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور به يي دده پر دي كارو ډېره وبيريدل او د زيد پلار ته به يي ويل: سړيه كه ددي هلك پر دا وخت د سميدو چاره ونكړو نو په لويوالي به يي اصلاح بيا ډېره راته ستونزمنه سي.

د زيد پلار وويل: پرېږده يي ښـــځې كوچني دی تر اوســـه او په كوچنيوالي هر كوچني شوخ وي.

زيد پر خپل پلار ډېر ګران وو هغه ته به يي ډېر نازونه وركول خو د زيد څخه به د خلكو شـــكايتونه ورځ په ورځ ډېريدل، زيد چي پلار يي لوی سرمايه دار هم وو كله كله به د پلار سره دفتر تـه هم تلی پلار بـه يي پـه دفتر كي خپل ترڅنـګ كښـــينوی، يوه ورځ يي ملګري ورته وويل: ســـلطانه دا زوی دي ډېر مه نازوه اخير به يي دا ســتا ناز بدلاري كړي مينه ور ســره كوه خو ورته ظاهروه يي مه.

ســلطان وويل: څه وكړم ياره چي د خنګه يي ليري كړم نفس مي پسي خيږي.....،

ساعت وروسته د مسكان موټر را ورسيدی هغه د موټره راكښته سوه او د ترمينل مخته ودريدل، كله چي يي دننه ترمينل ته وكتل زيد يي وليدی چي پر چوكۍ ناست دی دواړه لاسونه يي پر خپل څنګنو ايښـــي دي او ســـر يي لاندي زړولی دی، مســـكان دننه ترمينـل تـه ورغلـه او د زيـد مختـه ودريـدل، زيـد تر څو شـــېبو وروسته لومړی د هغې پښو ته وكتل وروسته يي چي لوړه وكتل نو مســـكان يي وليدل او په حيرانتيا د خپله ځايه ولاړ ســـو او تر څو شېبو پوري يي د يو و بل ستركو ته سره كتل او خپل د ميني دا وروستۍ شېبې يي په مايوسـۍ سره شمارلې چي په دي وخت كي د زيد ســر وركرځيدی او ســتركې يي پټې پټې كيدل شــروع



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړل، مسکان لا د زید په څېهره کي سترګې ښخې کړي وې خو کله چي د زید سرګرځیدل او سترګې پټیدل ډیر سول نو مسکان حیرانه سول چي زید دا څه کوي تر څو شېبو وروسته یي د زید پر اوږه لاس ونیوی او په حیرانتیا یي وویل: زیده ته ښه یي؟

زید په مړاوي ږغ وویل: هو ښښښ....،

په دي سره یو دم زید د شا پر طرف ولاړی، مسکان ددي حالت په لیدو لویه چغه وکړه: زیییییده!

کله چي د زید ورونو او پلار د مســـکان ناره واوریدل نو د زید پر طرف یي وکتل ګوري چي زید د شا پر طرف غوځاریږي او مســـکان هغه تر لاس نیولی دی، تر څو شــېبو وروســـته زید پر مځکه ولویدی خو مســـکان لا د هغه لاس نیولی وو، کله چي یي پلار او ورونه ور ورسـیدل نو زید بې هوښــه ســوی وو، تر څو شېبو وروسته امبولانس راغلی او زید یي روغتون ته روان کړ، په لاره کي زید د مســـکان لاس ټینګ نیولی وو او تر روغتونه پوري د مسـکان تر سـترګو اوښـکي رواني وې او زید ته په کتو کي یي خپل سترګې ښخې کړي وې........،

کله چي زید دولس کلن ســو نو مور یي د زړه د حملې لکبله مړه ســـول زید د نورو ورونو په پرتله د مور په مرګ زیات نه وو خوابدی خو د پلار یي نوره هم مینه ور ســـره زیاته ســـول ځکه زید تر نورو ورونو کشـــر وو، وختونـه تیریـدل زیـد بـه د خپلو ملګرو ســـره زیـات وخت په میلو او پارکونو کي تیروی تر دي حده چي ټول فکر بـه یي پـه انجونو او عبـث کـارو کي وو، کلـه چي به د مکتب څخه راغلی درسونه به یي نه ویل کورنی کار به یي د خپلو کاریګرو په زامنو رسوئ.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلونه تیر سـول زید اتلس کلن سـو خو عادتونه به يي نور هم بد کیدل کله به د یوې انجلۍ سره ملګرۍ کله به د بلي سره تر داسي حده چي يوه يوه بـه يي پـه اوونـۍ کي بـدلول، د زياتره انجونو يو لوی دوښمن جوړ سوی وو د پلار زیاتره پیسي به يي انجونو ته پر خراباتو او فرمايشو مصرفولي، د شپي تر ناوخته به ویښ وو خو کله چي به سـهار پوهنتون ته ولاړی نو هلته به بیده وو، يوه ورځ چي کله زید په پوهنتون کي بيده وو د احصـائيي د يو شـوخ او دردمن استاذ ساعت وو کله چي استاذ درس وایه نو يو دم يي زید ته پام سو چي بیده دی نو د هغه پر طرف ور روان سو کله چي زيد ته ورسـيدی نو شـاګردانو ته يي د چکچکو کولو اشـاره وکړه هغو ټولو د اسـتاذ په ګډون زید ته په کټو چکچکي شـروع کړې، زیـد فکر وکړ چي یو موضـــوع ده نو د خوب څخـه د راپورته کیدو سره سم زید هم چکچکي شروع کړې خو کله چي يي بغلته وکتل نو اسـتاذ يي وليدی او پوه سـو چي ټولو پر ما د مسخرو کولو لپاره چکچکي کولي.

استاذ ورته وویل: ما څه وویل زما ګرانه په درس کي؟

زيد چي کله تختي ته وکتل د رياضـــي سـوال يي وليدی خو په موضـوع يي سر نسو خلاص، استاذ بیا د مسخرو په ډول ورته وویل: مهرباني زید ګرانه تشريح يي کړه!

زید وویل: استاذه په خوله يي نسم تشريح کولای رياضي کله په خوله تشريح کيږي.

په دي سـره ټول محصـلين په خندا سـول خو اسـتاذ د چپ کیدو ورته وویل نو ټول چپ سول.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا استاذ وویل: ها واخله دا مارکر ورسه هغه لاندي سوال یي ته حل کړه!

زید مارکر واخیستی او د تختي مخته ودریدی کله چي یي سوال ته وکتل نو عصاب یي ورته ګډ وډ سول د سوال ټول اعداد یي په دماغ کي په څرخیدو سول تر څو شیبو وروسته یو دم راچپه سو او بي هوښه سو، کله چي په هوښ راغلی نو چي سترګي یي خلاصي کړې نو د احصائیې استاذ یي مخته بیا ولاړ ولیدی په دي سره بیا بي هوښه سو.

کله چي پوهنتون رخصت سو نو زید د ملګرو سره روان وو ملګرو کي یي یوه وویل: زیده چي شوق یي نلرې نو ولي راځې هره ورځ دي د احصائیې د استاذ دا بي عزتی خوښیږي؟

زید وویل: بابا مي نه پریږدي یاره چي رانسم بابا د میلو پیسي نه راکوي خو ددي استاذ سره به یي زه ګورم دی بیخي ما نه پسي پریږدي زه به یي هم خوښ سم.

ملګري یي وویل: څه په کوې نو لور خو شکر دی هغه نلري چي خطا یي باسې.

زید وویل: ښه لور نلري؟

ملګري یي وویل: یا لور نلري.

زید په فکر کي سو بیا یي وویل: نو دا به ښه چم په وکړو یاره... اووی ښه وایي عبدله هغه ستا تلیفون اواز اړوي اوه هغه د ښځو اواز ته چي یي واړوي؟

عبدل وویل: هو یاره خو هغه بیا څه په کوې؟

زید وویل: ته یي راکه هله!



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي عبدل زيد ته تليفون ورکړ نو زيد وويل: د استاذ نمبر څو وو؟

ملګري يي د اســـتاذ نمبر ورته ووايه کله چي عبدل زنګ ور وهلی نو اســتاذ تر څو شــېبو وروســته باندي اوکې کړ، اســتاذ وويل: السلام عليکم!

زيد څو شيبې ږغ نه پر کوی، استاذ بيا وويل: هلو څوک ياست؟

زيد چي تليفون يي ښــځينه اواز ته اړولی وو وويل: زه يم نه دي وپيژندلم؟

استاذ فکر وکړ چي ښځه ده نو يي ورته وويل: يا نمبر دي نه دی را سره ثبت نه مي وپيژندلي.

زيد وويل: زه ستا نازولي ملګرې يم زما ګرانه.

اســـتاذ چي په پوهنتون کي روان وو نو په دي ســـره يي تليفون يواري د غوږه ايسته کړ شـاوخوا يي وکتل چي څوک خو به مي نه ويني تر شـاوخوا کتو وروسته يي بيا تليفون غوږ ته ونيوی او په نرمه لهجه يي وويل: زما کمه ملګرې يي وبخښـــه شـــايد ډير وخت تير سوی وي نو ځکه دي اواز نه پيژنم که ته نوم راوښيې ښه به يي.

زيد وويل: اله زما ګرانه ته څنګه بي وفا يي داســـي ژر دي بيا هيره کړم؟

په دي سـره د زيد ملګري ټول په خندا سـول زيد هغو ته د چپيدو اشاره وکړه چي چپ سئ هغوی چپ سول.

بيا استاذ په نرمه لهجه او موسکا وويل: يا بي وفا نه يم اغه داسي دی چي په تليفون کي زه د چا اواز سم نه سم پيژندلای.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيد وويل: ښه نو ستا مطلب چي د نيړدي در سره ووينم؟

د اســتاذ موســکا نوره هم ډيره ســوه بيا يي وويل: هاهاها که ته کولای سي سره وبه وينو.

د زيـد ملګري ټول پـه خنـدا دي خولې يي د خنـداوو نـه ســـره ټوليږي.

زيد وويل: سمده سبا تر پوهنتون رخصتيدو وروسته به په پارک کي سره ووينو.

استاذ وويل: سمده چي ستا هر ځای خوښ يي هلته به ووينو.

زيد وويل: سمده او هو سبا چي راځي تور پتلون او سور جانکټ ور سره واغونده راسه.

استاذ وويل: سمده ستا لپاره به يي واغوندم.

کله چي زيد تليفون بند کړ نو ټولو ډير وخندل، ســبا ته چي کله زيد پوهنتون ته راغلی نو ټولو همصــنفيانو ته يي وويل: ګوری نن زه شرط در سره تړم چي د احصائيي استاذ به نن تور پتلون او سور جانکټ اغوستی وي.

ټول محصلين د احصائيي استاذ ته په تمه وه کله چي هغه راغلی نو ټول محصلين په خندا سول، استاذ حيران سو بيا يي په غوسه ټولو ته وويل چي چپ سئ، هغوی هم ټول چپ سول خو زيد لا خندل کله چي استاذ درس شروع کړ نو زيد د اســتاذ د تليفون کړي خبري چي ثبت کړي يي وې پـه لوړ اواز د صــنف پـه لودسـپيکر کي چالانده کړي په دي ســره ټول محصــلين په خندا سول او د استاذ مخ د دردہ تک سور سو او ډير وشرميدی او پوه سو چي دا د دوی پلان وو وروسته په کښته سر د صنف څخه



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووتئ او په سبا کي يي د پوهنځی اداري ته استعفاء را استولې وه، په دي سره زيد او ملګري يي ډير خوشحاله سول خو ځينو بيا د زيد پر دي کار د هغه څخه ډير نفرط وکړ او بد و رد به يي پسي ويل.....،

امبولانس روغتون ته را ورسيدی نرسانو زيد د امبولانس څخه راکښته کړ او د عمليات خونې پر طرف يي وځغلوئ، زيد لا هم د موسکان لاس په لاس کي نيولی وو او موسکان تر عمليات خونې پوري ور سره وه تر هغه وروسته يي لاس د زيد د لاسه ووتئ او د عمليات خونې مخته بې هوسه ودريدل. د زيد پلار او ورونه د ډاکټرانو سره مصروفه سول د زيد پلار ډاکټرانو ته وويل: په زوی مي څه سويدي؟

ډاکټر وويل: سلطان صاحب موږ اوس څه نسو ويلای خو د حالته يي داسي معلوميږي چي زهر يي خوړلي دي.

ټول ډير حيران سول بيا د زيد پلار وويل: څه؟

ډاکټر وويل: هو داسي معلوميږي چي زهر يي خوړلي دي.

په دي سره د زيد پلار بې حواسه سو او شاته يي جيټکه وخوړل.

څو شيبي وروسته روغتون ته عايشه راغلل کله چي د موسکان سره مخ سوه نو موسکان تر څو شيبو پوري عايشې ته کتل بيا يي سر د هغې پر اوږه کښيښنوی او په ژړا سول.

عايشې تر څو شيبو وروسته وويل: موسکان ژاړه مه دا هر څه خو ستا د لاسه پيښ سول تا هغه دي حالت ته راوستئ.

د موسکان ژړا نوره هم زياته سول.......،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا نرســـه راووتل او مســـکان ته یي یو خط ونیوئ او ورته وي ویل: اغلي دا خط د زید په جیب کي وو شـــاید مهم څه یي پکښـــي لیکلي وي دا واخلئ.

مســـکان هغه خط واخیســـتی او خلاص یي کړ زید و مســـکان ته لیکلي وه: مســـکان زه پوهیږم کم څه چي ما د ځان ســـره اوس وکړل شـــاید غلط وي خو تر دي ژوند چي زه پکښـــي تا د بل چا ســـره وینم زما پـه فکر زما لپاره همدا کار کول ډیر بهتره وه د هري ورځي تر مرګ ښـه دی چي یوه ورځ مړ سم او ددي لپاره ته خپل ځان هیڅکله مه ملامتوه او نه هم زه ســـتا څخه ګیله کوم ولي چي زما و ســـتا یو ځای کیدل په دي دنیا کي ناممکینه وه زه به د رب څخه بس دا یوه غوښتنه کوم چي په هغه دنیا کي ماته تا راکړي او موږ په هغه دنیا کي ســـره یو ځای کړي ماته بخښـــه وکه مسکان.

مسکان د زید خط په لاس کي ټینګ ونیوی او د زړه په درد سره یي پر خپل زړه د زید خط کښیښوی او پر چوکۍ کښینستل....،

یو ورځ د زید پلار په کمپنۍ کي د خپلو کارمندانو ســـره غونډه درلوده ســـلطان عایشـــي ته وویل: عایشـــي موســـکان زموږ نوي کارمنده ده د هغي سره به په هر کار کي همکاري کوي،

عایشي وویل: سمده صاحبه ولي نه.

د غونډي په جریان کي یو دم د دفتر دروازه خلاصه سول او زید راننوتئ د پلار سره تر روغبړ وروسته یي په غوږ کي څه خبره ورتـه وکړه، د دفتر ټول کـارمندان چپ وه او د زیـد بي ادبۍ تـه حیران وه، عایشـه چي د موسـکان تر څنګ ناسـته وه زید ته یي ډیر په قهر او غوسـه سره کتل، تر څو شـیبو وروسـته زید ووتئ



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ولاړې، کله چي غونډه خلاصه سول عایشه او موسکان خپل کار ځای ته راغلې موسکان وویل: عایشې دا بې ادبه څوک وو چي د غونډې په منځ کي بیله اجازې دفتر ته راننوتئ؟

عایشې د درد ساه واخیستل بیا یې وویل: دا د صاحب کشر زوی دی په اخلاقو کي صفر او په بد اخلاقۍ کي سل نمرې هر وخت لري د انسانیت د چوکاټه کرسره وتلئ دی.

موسکان وویل: ښه ښه پر پلار لکه چي ډیر ګران دی؟

عایشې وویل: هو خو هغه داغسي بد اموخته کړیدی.

موسکان وویل: د صاحب داغه یو زوی دی؟

عایشې وویل: یا نور زامن هم لري دی یې تر ټولو کشر دی.

موسکان وویل: هغه نور یې هم داغسي خراب دي؟

عایشې وویل: یا یوازې یې دی داسې بدلاری دی هغه نور یې ډیر ښه ورونه دي.

بیا عایشې وویل: موسکان ته پوهیږې دده څخه هیڅوک نه دي خلاص څو ورځې مخکي د پوهنتون یوه استاذ دده د لاسه استعفاء ورکړه پوهنتون یې پریښودی.

په دې سره موسکان وخندل بیا یې وویل: ډیر جالبه دی.

کله چي زید خپلو ملګرو ته ور ورسیدی نو هغو ته یې وویل: درځئ ملګرو بیا مې د میلې پیسې در پیدا کړې.

د زید ملګري وویل: ای زیده خبر یې نن هغه ستا د ملګرې شاهینې واده دی؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيدوويل: دا څه وايې هغه خو ماته د ميني د اظهارو په کولو سترې کيدل نه اوس يي بيا بل خاى واده روان دى؟

ملګري يي وويل: هو ياره داسې خبره ده تر تا يي يو څه د غټ سرمايه داره زوى پيدا کړيدى نو ځکه د هغه سره واده کوي.

زيد وويل: داغه دى چي ماښام ما زنګونه ور وهل نه يي راباندې پورته کول ښه دا خبره ده نو زه به يي هم خوښ سم درځئ چي واده ته يي ورسو.

ټول موټر ته وختل او مخ د واده پر طرف روان سول، کله چي د واده صالون ته ور ورسيدل زيد او ملګري يي دننه ورتلل خو د صالون دروازه وان راوګرځول او ورته وېويل: دعوت نامي مو راښکاره کړئ!

زيد وويل: هغه واده چي يي دى د هغه زوم ورونه يو مونږ خپل خلک يو نور پردي مه راپرېږده.

دروازه وان وويل: سمده صاحبه ډير وبخښئ.

زيد او ملګري يي دننه صالون ته ننوتل، زيد د واده د يو ګډونکونکي څخه پوښتنه وکړه: وبخښه زوم کم يو دى؟

ګډونکي يو ځوان ته اشاره وکړه چي هغه يو دى، زيد او ملګري يي زوم ته نږدي د هغه شاته کښېنستل او په بانډار يي شروع وکړه، زيد او ملګرو يي د شاهيني خبري شروع کړې چي څو شيبي وروسته د زوم د دوى خبرو ته پام سو او غوږ يي ورته ونيوئ.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيد په لوړ اواز چي غوښــتل يي زوم يي واوري وويل: ياره پريږده يي شــاهيني هيڅ وفا نه درلوده هغه زموږ و ســتاســو حشمت يي هم پريښوئ د پيسو د ياره او زيد يي هم پريښوئ.

د زيد ملګرو زوم ته وکتل او پوه ســول چي غوږ يي نيولی دی قصداً يي زيد ته وويل: ياره چپ سه داسي نه زوم يي واوري.

زيد وويل: يا ياره خدمتګار ويل چي زوم تر اوسه نه دی راغلئ.

زيد او ملګرو يي د شــاهيني په اړه نوري بدي خبري هم وکړې چي ټولي يي زوم واوريدي، کله چي خبرې خلاصــي ســوې نو زوم ولاړ ســو او خپل پلار ته يي وويل: بابا زه تر دا واده تير يم زه همدا اوس بيرته دا خپلوي ماتوم.

زيـد او ملګرو يي زوم تـه کتـل چي هغـه د خپـل واده شـــيـان وغورځول او خپلوي يي ماته کړه، په دي سره زيد او ملګري يي په خندا د صــالونه راووتل او ټولو د خوښــيو لاســونه ســره وجنګول، د زيد ملګري وويل: ياره زيده دېته بيا دي څه پام سو؟

زيد وويل: که يي د بل څه لپاره پري ايښــی وای بيا مي څه نه ويل ورته خو دا چي د پيســو لپاره يي پريښــولم دا مي ونســوای ځغملای د نن زياتره انجوني داســي دي چي د خپل ښــايســت په خاطر په ځوانانو لوبې کوي د هغو په احســاســاتو لوبې کوي يواري يي پر ځـان د مېني پـه اور ښـــه ګرم کړي خو بيـا يو دم واوړي او د هغه په مينه پسخند ووهي.

د زيد ملګرو وويل: پريږده يي ياره دماغ مه په خرابوه.

عايشــه او مســکان په دفتر کي په کمپيوټر کي مصــروفه وې حسابونه يي رسول، مسکان د ډيري ستړيا په سبب لاس پر ميز



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښینیښوئ او پر هغه یي خپل سر ولګوی چي په دي وخت کي د عایشي ورته پام سوه او ورته ویویل: مسکان څه خبره ده؟

مسکان وویل: هیڅ خبره نده بس یو څه مي سر په له وګرځیدی.

عایشي وویل: خیر ته ورسه یو څو شیبي استراحت وکه ستا کار به زه وکم زه ور سره اموخته یم ستا نوي وظیفه ده خامخا اول سر کي ستړیا لري.

مسکان وویل: یا زه یي کوم ته دي خپل کار وکه.

خو عایشي ټینګار کوئ چي نه حتماً به استراحت کوي، مسکان هم د چوکیه ولاړه سوه عایشي ورته د استراحت اطاق ته اشاره وکړه چي هلته ورسه، مسکان د استراحت اطاق ته ورغلل او هلته یي د دباندي هنداري ته پر پرتي سوپا څنګ واچوئ او سترګي یي پټي کړي تر څو شیبو وروسته چي یي سترګي خلاصي کړي نو تر دفتر دباندي یي پر زید سترګي ولګیدي چي دفتر ته را روان وو، کله چي زید دفتر ته ننوتئ نو د دفتر چوکیدار چي پوخ سینه سړی وو زید ته سلامي وکړه زید هغه ته ورنیږدي سو او د هغه لاس یي د سر څخه راکښته کړ، مسکان زید ته کتل د هغه خبري یي نه اوریدي خو مطلب یي واخیستئ چي زید چوکیدار ته ویل چي بل وار ماته سلامي مکوه ته تر ما مشر یي، وروسته زید په جیب لاس ننایستی او چوکیدار ته یي پیسي ورکړي وروسته ځني روان سو، مسکان د زید دا عمل حیرانه کړه چي دومره زیات بد اخلاقه هلک او دومره زیات مهربانه زړه؟، کله چي زید دفتر ته راننوتئ نو په دي وخت کي مسکان هم د استراحت د اطاق څخه ور ووته، زید د مسکان ومخته تیر سو خو هغي ته یي هیڅ نه دي کتلي، مسکان په



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاغذانو ځان مصـــروفه کړ خو ســترګې يي په زيد کي وې، زيد چي کله عايشــې ته ور ورسـيدی نو د هغې پر ســر يي لاس ور کښــيښــوی او ورته ويويل: ښنګه عايشــې؟ نن خورا تيزه نه يي اختهٔ؟

عايشــې د درواغو په موســکا ورته وويل: هو صــاحبه کارونه زيات دي نن يي بايد سرته ورسوم.

وروســته زيد ځني روان ســو او په روانيدو کي يي ورته وويل: ونيسه ونيسه اخته اوسه بيکاري دي خرابوي.

عايشــې خوله پيته کړه او کرار يي د ځان ســره وويل: هو لکه ته چي يي خراب کړی يي.

مســکان د زيد او عايشـــې پر خبرو د ځان ســـره خندل او بيا د عايشــې وخواته ورغله او په موسـکا يي ورته وويل: څه يي درته ويل؟

عايشـــې وويل: خپله تولـه ورځ بيکاره ګرځي دی ماته وايي چي اخته اوسه بيکاري دي خرابوي.

مسکان په خندا سوه بيا يي وويل: خو ښه يي درته ويلي دي.

عايشې وويل: ښه ته هم دده پر خوا سوې راته؟

مسکان وويل: يا يا خدای دي نکوي زه خو ستا پر خوا يم.

کله چي مسکان پر خپله چوکۍ کښينستل تر څو شيبو پوري يي فکر کاوه بيا يي وويل: عايشـــې د صـــاحب زوی په ظاهره ډير خراب دی خو زړه يي ډير نرم دی.

عايشې وويل: هغه ښنګه؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسکان وویل: د استراحت په اطاق کې مې دباندې کتل چې دی مې ولیدی د هغه سپین ږیري چوکیدار سره یې ډیر ښه وضعیت کوی.

عایشې وویل: د یو دوو سره به ښه وضعیت کوي خو د ډیرو یې بیا زړونه ور مات کړیدي.

د عایشې او مسکان د خبرو په جریان کې یو دم په لوړ اواز د چیلاخې (ځپیړې) ږغ سو، کله چې دوی د زید د پلار د دفتر و خواته وکتل او نږدي ورغلل نو د زید پلار زید ته پر مخ چپلاخه ورکړې وه بیا یې په غوسه په دفتر کې ناستې شاهینې ته چې پلار یې هم تر څنګ ناست وو اشاره وکړه او زید ته یې وویل: بخښنه ځنې وغواړه!

زید څو شیبې چپ وو بیا یې پلار په درد او غوسه ورته وویل: وایم بخښنه ځنې وغواړه!

زید سر کښته اچولئ وو بیا یې شاهینې ته وویل: بخښنه غواړم.

بیا د زید پلار وویل: ما دا فکر لا نه وو کړی چې ته به داسې یو خراب کار کوې.

عایشې د سر په اشاره مسکان ته وویل چې دا دی ودې لیدی.

تر څو شیبو وروسته زید د پلار د دفتره راووتی د هغه په لیدو ټول کاریګر بیرته په خپلو کارو اخته سول، عایشې مسکان ته وویل: ما نه وه درته ویلي چې دا صرف د یو څو کسانو سره ښه دی د ډیرو یې بیا داسې زړونه ور مات کړیدي لکه هغه په دفتر کې ناسته بې وزله انجلۍ.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زید پلار د شاهیني پلار ته وویل: زما د زوی سره سره زه هم بخښــه درڅخه غواړم زه به ســتاســو خپښــانو ته زنګ ور ووهم ورته وبه وایم چي دا دوستي بیرته پر مخ بوځي زه یي پوه کوم.

د شاهیني پلار د زید د پلار څخه مننه وکړه او بیا ولاړل، شاهین چي کله د دفتره وتل نو تر سترګو یي اوښکي رواني وي مسکان او عایشــي دواړو د هغي ســترګو ته کتل او د شــاهیني ژړا ډیري پریشــانه کړي، ماښــام ســو ســاحل د کور پر بام ناســت وو او تر سـترګو یي اوښـکي بهیدي، تر څو شـېبو وروسـته یي پلار هم بام ته ورپورته سو او د زید تر څنګ کښینستئ زید ته چي یي وکتل نو وپلیدل چي هغه ژاړي، پلار یي غوښتل چي د هغه مخ په خپل لاس خپل خواته راوګرځوي خو زید د پلار لاس د خپل مخ څخه لیري کړ مخ یي بل طرف تـه څني واړوئ، بیـا یي پلار پر اوږه لاس ورکښیښنوئ او ورته ویویل: خوابدی یي راڅخه؟

زید څـه نـه وویـل بیـا یي د پلار لاس د اوږې څخـه لیري کړ او همداســي یي تر ســترګو اوښــکي رواني وي، پلار یي لاس څني ایســته کړ بیا یي ورته وویل: په ژوند کي څو شــیان دي چي کله ولاړ ســــي بیا هیڅکلـه نـه راګرځي پـه هغو کي یو عزت دی او عزت چي کله ولاړ ســـي بیا که څه هم انســـانان یي په خپلو هلو ځلو بیرته لاسته راوړي خو بیا هم د اول پڅیر نه وي تا چي کله د هغي بیچاره او مظلومي انجلۍ بي عزتي کول او د هغي ژوند دي ور تباه کوئ یو وار دي هم دا فکر ونکړ چي پر هغي به څه تیریږي؟ د هغي پر کورنۍ بـه څه تیریږي؟ د هغي پلار ویل چي لور یي ځان وژنه کول خدای وکړه چي دوی پر وخت ورغلل که نه ستا د لاسه به یو انجلۍ خپل ژوند د لاسه ورکړی وای.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا د زید پلار وویل: زویه ځواني د بنـــامار پخیر ده کله چي ښامار په احساساتو کي سي د نورو سره سره زیاتره وخت داسي هم پیښـه سـي چي په دې احسـاسـاتو کي خپل ځان هم وسوځوي هیڅکله د ملګرو پـه منځ کي د هغو د خندولو یا هغو تـه د ځان قوي ثابتولو لپاره د بل چا په احسـاسـاتو لوبې مکوه که وروسـته بخښـنه هم ځني وغواړې خو بیا هم د هغه په زړه کي درد او غم ریښـه پریږدي ځکه بدي خبري او بد کردار داسـي دی لکه په یو دیوال کي چي میخونه ټکوهې که څه هم بیرته یي راوباســـي خو په دیوال کي یي أثرات او نښې پاته کیږي نو تر خبري او یو کار کولو مخکي څو واري فکر پر کوه ښې او بدي پایلې یي څیړه او بیا هغه خبره او کار کوه.

بیا د زید پلار تر څو شـیبو وروسـته وویل: اوس درځه زه وږی یم ډوډۍ به وخورو.

زید وویل: زه یي نخورم زما خواته نکیږي.

پلار یي وویل: سمده زه به هم نن وږی بیده سم.

تر څو شـیبو وروسـته زید پر پلار لاسـونه ونیول او په غیږ کي یي ونیوئ، پلار یي هم پـه غیږ کي ونیوئ او پر ســـر یي مچ (ښـــګُل) کړ بیا یي وویل: ما وبخښـــه زویه په غوســـه کي مي چپلاخه درکړه.

وروســـته زید او پلار ډوډۍ خوړلو تـه ولاړل او ټولو یو ځایي ډوډۍ وخوړل،

کلـه چي غرمـه ســـول زیـد او ملګري یي پـه پـارک کي پښـــې غوځولې وې پراته وه زید وویل: یاره پر بل شـي مي دومره خوا



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

نســـوه بده د هغه کاریګرو مخته وشـــرمیدم چي بابا په چپلاخه ووهلم.

یوه ملګري يي وويـل: نو خو دفتر تـه بـه پـه دي وخـت کي نـه ورتلای یاره.

زيد وويل: نو زه څه خبر وم چي دا د بدبخته لور به هلته وي او بابا ته به يي زما شکایت کړي وي.

عایشه او مسکان هم په پارک کي ګرځیدلي چي بیا زيد او ملګرو ته يي نږدي کښـــینســـتلي چي د يو او بل په منځ کي د ګلانو په سبب يي نسوای سره لیدلای، د زيد د خبرو په جريان کي پارک ته يوه محصـله او يو محصـل د درس ويلو لپاره راغلل او زيد ته نږدي ودريدل، د زيـد د خبرو پـه جريان کي ورتـه پام ســـو چي ورتـه وېکتل نو پـه غوسه يي ورتـه وويل: څه شي دی؟

محصل وويل: وبخښئ يو څه سم کښينئ پارک مو ټول نیولی دی مونږ دلته درس وايو.

زيد چي يي دا خبره واوريده نو نيم راپورته ســو او شـــاوخوا يي وکتل بیا يي ورتـه وويل: دا دومره ســـاحه پاته ده ته دلته مونږ ته ودريدي؟

مســـکان او عايشـــي بانډار ســـره کوئ چي يو دم يي د زيد اواز واوريدی او غوږ يي ورته ونیوئ.

محصل وويل: هلته هم ستاسو رکم بيكاره خلک ناست دي.

زيد په غوســـه محصـــلي ته وويل: دا ورور دي بوځه که نه خوله يي ورماتوم.

محصلي وويل: دا مي ورور ندی.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زید وویل: که دي ورور دی که دي انډیوال دی که دي هر څه دی خو اوس یي ددي ځایه بوځه که ور ولاړ سوم خیر به یي نه وي.

محصل وویل: ګوره په ادب خبري کوه.

زید ور ولاړ سو او هغه محصل یي په چپلاخه ووهلی او ورته وپویل: ملخه خو په ادب مي درته وویل خو تا په هغه غاړه نه ویستل اوس به ادب در وښیم.

زید هغه محصل تر لغتو او سوکانو لاندي کړ او د خپلي ساحي څخه یي ویستئ او پسي ناره یي کړه: بي عقلانو د میني او عاشقۍ د پاره راځئ بیا نو درسونه بهانه کوئ چي درسونه وایو په پوهنتون کي خو هم پارک سته هلته ولي درس نه وایست؟

مسکان او عایشي د محصلینو سره د زید چلند ولیدی خو څه یي ونه ویل او مخان یي د زید څخه پټ کړل.

زید بیرته خپلو ملګرو ته راوګرځیدئ او ملګرو ته یي وویل: یاره ناحقه یي طبعیت را خراب کړ.

ملګرو یي وویل: پریږده یي یاره.

زید وویل: ما څه ویل یاره خبره یي راڅخه هیره کړه بنه اوس راپیاد سوه نو ما ویل چي زه نه وم خبر چي شاهینه او پلار یي د بابا په دفتر کي دي او زما شکایت یي بابا ته کړیدی.

د زید د خبرو په جریان کي یو بل نفر ږغ وکړ: وبخښئ؟

زید چي سر پر راپورته کړ هغه ته یي په غوسه وویل: څه شی دی؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وويل: زما ښځه به مو نه يي ليدلي دلته راځخه ورکه سوه؟

زيد وويل: هو ومو ليدل اوس د يو ځوان ســـره دباندي په خندا خندا ووتل او ښـــځي دي ويل چي زما د خپل خاوند څخه ښـــه نه راځي هغه نور پرېږدم دده دي دا بد شکل ورک سي.

مسکان او عايشه د زيد په دي خبرو ډيري خنديدلي او هغه ته يي غوږ نيولئ وو.

هغه سړي په حيرانتيا وويل: دا څه وايي؟

زيد وويل: رښتيا وايم ستا په سر دي مي قسم ييي.

د زيد ملګري هم ټول پـه خنـدا وه بيـا هغه ســـړي په ژړا وويل: داسي نسي کيداى.

زيد وويل: خو دا واري داغسي وسوه.

د مســـکان او عايشـــي خوله د ډيري خندا نه ســـره ټوليدل د زيد ملګرو هم داغسي خندل.

هغه سـړى ډير غمجن سـو او په ژړا د پارکه ووتئ زيد وويل: د بي عقل زوو ښـځه ستا ده او پوښتنه يي زموږ څخه کوې؟ ما هم داســـي چم ور ســـره وکړ ولاکه بيا بله ورځ ښـځه پارک ته ځني راسي يا به يي هم نن اخيري ورځ يي سره.

مســـکان او عايشـــه په خندا د چوکيه ولاړې ســـوې او د پارکه ووتلې،

مســـکان به د دفتر د کلکين څخه دباندي زيد ليدئ چي هره ورځ به نوې نوې انجلۍ ور سره وه، مسکان په دي پوه سوه چي زيد هره انجلۍ صـرف خپل د هوس لپاره اسـتعمالوي د هغې په زړه



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي زيد څه نفرط ونيوئ او چي کله به يي وليدئ نو په غوسه به يي مخ ځني واړوئ.

يوه ورځ د زيد پلار مسکان خپل دفتر ته وغوښتل او ورته ويويل: مسکان لوري د هغې نوې پروژې طرحه چي مي درکړې وه هغه دي جوړه کړه؟

مسکان وويل: هو صاحبه دا دی راوړي مي ده.

د زيد پلار وويل: لوري که تکليف نه يي درته دا به زما مشر زوی خالد ته ور ښکاره کړې او هغه نن کور ته د پروژې قرارداديان راغوښتي دي د ميلمستيا لپاره تاسو دا طرحه زموږ کور ته ور وړئ او خالد ته يي تشريح کړه چي بيا يي هغه قراردادیانو ته وښيي.

مسکان وويل: سمده صاحبه زه به ورسم کمه خبره نده.

د زيد پلار وويل: مننه لورکی.

مسکان د دفتر څخه ووتل او موټروان ته يي وويل: د صاحب کور ته مي ورسوه.

موټروان وويل: سمده اغلي.

موټروان مسکان د زيد کورته ورسول، کله چي مسکان کورته دننه ورغله نو د خدمتګار څخه يي وپوښتل: وبخښئ! د صاحب زوی خالد چيري دی؟

خدمتګار وويل: لوړه ور پورته سه دوهم منزل کي اول اطاق ميلمستون دی خالد صاحب هلته دی ميلمانه او خالد صاحب تاسو ته په انتظار دي.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسکان وویل: مننه.

کله چي مسـکان کور ته دننه سـول نو ګوري چي په صـالون کي دوهم منزل ته د دوو خواوو زينې ختلې دي مسـکان د ځان سـره وويـل: نـه پوهيږم خـدمتګـار د کومو زينو د خوا اول اطـاق يـاد کړی وو دلتـه خو زينې دوه طرفـه دي چي اوس راسـتـه طرف زينې اول اطاق دی او که د چپه طرف اول اطاق دی نه پوهيږم.

مسـکان د چپه طرف پر زينو دوهم منزل ته پورته سوه او د اول اطاق دروازه يي لږ څه خلاصـه کړه او سر يي ور دننه کړ هلته يي وليدل چي څوک نسـتـه، مسـکان فکر وکړ چي شـايد په همدي اطـاق کي نور اطـاقونـه وي نو ځکـه دننـه ورغلـه، کلـه چي مختـه ولاړه نو تر غوږ يي په تشـناب کي د چا د لمبيدو ږغ واوريدئ نو ځکه بيرته راوګرځيدل او غوښـتل يي چي ووځي چي په دي وخت کي يي پر ميز پروت تليفون ته پام سـو چي زنګ ورته را روان وو، د مسکان سترګي يو دم پر تليفون ولګيدي چي شخصـي شميره ورته ليکلې وه چي تر څو شيبو وروسته بند سو، کله چي تليفون بند سو نو د مسدکالو خبرتيا يي مخته راوړل، مسکان چي ورتـه وکتل نو تر ۱۰۰ زيات زنګونه او ميسـجان ورته راغلي وه، مسکان فکر وکړ چي داسي نـه عاجل او ضروري تليفون وي چي دومره زنګونـه او ميسـجان يي راغلي دي نو فکر يي وکړ چي خـاونـد يي پـه خبر کي، کلـه چي يي تليفون لمس کړ نو هغـه ولګيدی او قلف يي خلاص سـو کله چي مسـکان ميسـجان کښـيکاږل نو د هغه نفر ميسـجان يي راخلاص کړل چي زيد ته يي ليکلي وه: زيده هيله کوم ما يوازي مه پريږه.

زيده زه ستا سره مينه کوم،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیده زه تاته وایم زما تلیفون ته جواب راکه،

ما و تا خو یو د بل سره مینه کول،

اوس ولي پښیمانه سوې،

زیده تلیفون ته جواب راکه هیله کوم،

زیده زه بیله تا ژوند نسم کولای،

که ته راشخه ولاړې زه به مړه سم،

مســکان پوه ســوه چي دا اطاق او تلیفون د زید دي شــاوخوا یي وکتل او د میسجانو په ویلو ډیره خوابدې سوه بیا د اولو میسجانو پر طرف یي ګوته راکش کړه د زید میســـج یي ولیدی چي خپلې ملګرې تـه یي لیکلی وو: نفرط درخخـه کوم بل وار دي دا مردار مخ رابنـــکاره نکړې او مه هم بیا میســـج راته کوه زما دا رکم انجوني ندي پکار.... ،

د مســکان تر غوږ د اطاق دباندي د چا د پښــو ږغ ســو، مســکان ژر تلیفون کښـــیښـــوئ او دباندي ووتل ګوري چي خدمتګار را روان وو د زید اطاق ته یي ناشــته را اخیســتي وه، مســکان چي خدمتګار ولیدی نو ډیره وارخطا سوه، خدمتګار د مسکان په لیدو وویل: اغلي د میلمستون اطاق هغه بل طرف ته دی دا خو د زید صاحب اطاق دی.

مسکان په وارخطا اواز وویل: وبخښه ما فکر کوئ چي دا دی.

وروسته مسکان د میلمستون پر طرف ور روانه سول خدمتګار د زید اطاق ته ورغلی او ناشــته یي ورته ســمول، تر څو شــېبو وروسته زید د تشناب څخه راووتئ او حیران ودریدی بیا یي پزه



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کشــه کړل او خدمتګار ته یي وویل: دا د ښـځو عطر بیا د کله پر ځان وهې؟

خدمتګار په خندا ســو بیا یي وویل: صــاحبه ته د ښـځو عطر هم پیژنې؟

زید وویل: هو خود یي پیژنم.

خدمتګار وویل: صاحبه ما نه دي استعمال کړي د مشر صـاحب د دفتر څخه یو انجلۍ راغلي وه د خالد صــاحب پوښــتنه یي کول ما میلمستون ور ښولئ وو او دا دلته په غلطۍ کي راغلي وه.

زید حیران سو بیا یي وویل: انجلۍ وه؟

خدمتګار وویل: هو صـــاحبه د خالد صـــاحب میلمانه راغلي دي شاید د هغو سره راغلي وي.

زید وویل: ښه صحي دی ناشته ژر سمه که وږی یم.

زید د سر وریښتیان سمول چي خپل تلیفون ته یي پام سو کله چي یي ولګوی نو وېلیدل چي پر میســـجانو ولاړ دی بیا یي خدمتګار ته وویل: دا زما په تلیفون تا لاس وهلی دی؟

خدمتګار وویل: یا صــاحبه ما خو هیڅکله ســتاســو تلیفون ته لاس لا هم نه دی ور وړی.

زید په غوسه وویل: بي عقله!

زید چي کله ناشته وخوړل د خپل اطاق څخه ووتی او میلمستون ته ورغلی، خالد او میلمانه یي په باندار مصــــروف وه، مســـکان ډیره وارخطا ســـول او فکر یي کوئ چي زید د تلیفون په خاطر دلتـه راغلی، خو زید ټولو تـه ســــلام ووایـه او بیـا د خـالد خواتـه



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورغلی او د هغه د جيبه يي بټوه را و ايستل او پيسې يي څني واخيستې خالد وويل: زيده! نن ميلمانه بيايم خوړنځای ته لږ راپريږده.

زيد وويل: لږ مي واخيستې لالا بابا ويل چي نن دفتر کي نه يم يو ځای ته ځم کار لرم جيب خرڅ د خالد څخه واخله.

زيد تر پيسو اخيستلو وروسته بټوه بيرته د خالد جيب ته واچول او بيا روان سو کله چي وتئ په تګ کي يي پر مسکان سترګي ولګيدي څو شيبي يي هغي ته کتل بيا ووتئ، مسکان هم وارخطا وه چي داسي نه اوس راته ووايي چي زما اطاق ته ولي راغلې وې او زما تليفون دي ولي کتلی وو خو زيد څه نه وويل او ولاړئ.

ماپښين په دفتر کي مسکان پر خپل چوکۍ ناسته وه او په فکرو کي غرقه وه چي تر څو شيبو وروسته عايشه راغله او په حيرانۍ يي مسکان ته وويل: مسکان؟ څه خبره ده خيريت خو به يي؟

مسکان اوږده ساه واخيستل بيا يي وويل: داسي خاصه خبره نده بس داغسي مي يو څه طبعيت خراب وو.

عايشي وويل: په کمه خبره دي طبعيت خراب وو؟

مسکان وويل: غرمه صاحب ويل چي زموږ کور ته ولاړه سه او خالد ته طرحه ورکه هغه نن نه راځي کور کي ميلمستيا لري نو زه ورغلم د صاحب کور ته د خدمتګار څخه مي د ميلمستون پوښتنه وکړه هغه راته وويل چي په دوهم منزل کي اول اطاق د ميلمستون دی خو کله چي زه دننه کور ته ورغلم نو دوهم منزل



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

تــه د دوو خواوو زینې ختلې وې زه حیرانــه ســـوم چې اوس خدمتګار د کمې خوا اول اطـاق یاد کړی وو خو خیر زه پر چپه طرف زینو دوهم منزل تـه پورتـه ســـوم او اول اطـاق ته ورغلم ګورم چې هلتـه څوک نــه وه مـا فکر وکړ چې اطـاق مې غلط کړیدی نو ځکه مې وغوښـــتل چې بیرته ووځم چې په دې وخت کې مې ســـترګې پر میز پروت تلیفون باندې ولګیدې چې زنګ ورته را روان وو چې تر څو شـېبو وروسـته بند سـو کله چې بند سو نو پر مخ یې د پیغامو او زنګو معلومات راوړل ما چې ورته وکتل نو تر ســل زیات زنګونه ورته راغلې وه ما فکر وکړ چې شاید مهم تلیفون وې چې خاوند یې په خبر کم نو ځکه مې تلیفون را واخیســـتئ چې ومې کتـل تلیفون قلف نلرې نو مـا لومړی میسجان وکتل چې د همدې نمبر څخه راغلې وه میسجان چې مې وکتل نو د یوې انجلۍ میســجان وه چې شـاید زید پرې اینبـــې وه هغې زید تـه پـه پیغامو کې ډیرې زارۍ او ننواتې کړې وې چې ما مه پریږده ما او تا خو مینه کول داســـې دی و هاســـې دی خو زید یې نــه پیغامو تـه جواب ور کړی وو او نــه یې تلیفون تـه، د زید میسـجان چې مې وکتل چې ده ورتـه کړې وه هغې ته یې ډیر بد الفاظ استعمال کړې وه سخته یې پریشانه کړم نه پوهیږم چې د هغې خوارکۍ پر زړه به څه تیریږي چې دا ظالم پرې اینبې ده.

عایشـــې وویل: خیر پریږده یې فکر مه په خرابوه د زید خو کار او عادت داغه دی د هغه لپاره نو دا کم نوې خبره ده.

مســـکان وویل: یو چاره ورتـه پکار ده عایشـــې که نه ډیرې بې وزلـه انجونې بـه دده د ظلم ښکار سې.

عایشې وویل: څنګه چاره؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسـکان وویل: دده زړه تر اوسه ندی مات سوی کچیري دده زړه هم مـات ســـي او درد یي ووینـي بیا به د بل چا زړه نه کړي ور مات او نه به هم ځوک د خپل مقصـــد لپاره اســتعمالوي دده زړه باید په یو رکم ور مات کړو.

عایشـــې وویل: پرېږده یي مســکان دا د خانانو زامن ډېر نازولي لويان سوي يي کوچنی غم هم سخت بد پر لګېږي داسي نه د زړه سره سره دی هم مات سي وروسته به بیا پر پښیمانه یي وروسته پښیماني بیا فایده نکوي ددا کار سره خطر ډېر دی.

مســکان وویل: پوهیږم چي خطر به يي خو شـــاید دده ژوند ور ســره ســم ســي او هم به د نورو انجونو ژوند ژغورل ســوی يي اوس خو دی هم بـدلاری دی او انجونـي هم بـدلاري کوي پـه دي کار سره به د دواړو طرفینو ژوند ژغورل سوی يي.

عایشې وویل: نو څه کول پکار دي؟

مسکان وویل: ته دده سره پر تلیفون خبري کوه او د میني په جال کي يي ونیسه.

عایشـــې وویل: یا یا زه دده ســره خبرې نسـم کولای دی زما اواز پیژني زه د ځو کالو راهیســـي دلي کار کوم ته خو نوې يي ســـتا سره یي تر اوســه خبرې هم ندي کړي ته خبرې ور ســره کوه پر تلیفون.

مسکان وویل: ما به ور سره کړي وای خو زما بیا خاوند پر کور يي نه هلته خبرې ور سره کولای سم او نه هم دلته.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

عایشــې وویل: یا مســکان زما اواز زید پیژني ته داســي وکه چي بیا د دفتره وتلو پارک ته به ځو په پارک کي بیا خبرې ور ســره کوه.

مسکان وویل: صحي دی سبا ته به زه نوی نمبر پیدا کم بیا به په هغه نمبر زنګ ور ووهم او خبرې به ور سره وکم.

کله چي د ســبا لمر خپلي شــغلې پر ښــارونو وغوړولې او ټولو موجوداتو تـه يي د نوې ژونـد تحفه ورکړه خو زید لا هم د خوب پر بیستر پروت وو او د سهار تحفه يي لا نه وه اخیستي تر څو شــیبو وروســـتـه يي تلیفون زنـګ ووهلی خو زید بیده وو او د تلیفون په زنګو او اواز نه سو خبر خو تر څه وخت وروسـته په ښـوریدو سـو او لاس يي تر تلتک را ویسـتی او تلیفون يي اوکې کړ او د خوب په اواز يي وویل: نه اورم!

مسکان او عایشه پټې په خندا سوې بیا مسکان په مینه وویل: لکه چي سپین ږیری سوی يي غوږو دي کار پری ایښی دی.

زید بیا د خوب په اواز وویل: اقبال رزیله دا ســـتا په اواز څه وسوه د ښځې په اواز ولي خبرې کوې؟

مسکان وویل: ښـه دومره ضعیف سوی يي چي اوس د ښځې او نر اواز نه پیژني زه ښځه یم نر نه یم.

زید وویل: وبخښه نمبر دي غلط کړیدی.

وروســته زید تلیفون بند کړ او بیا بیده ســو خو تر یونیم ســاعت وروسته يي بیا تلیفون ته زنګ راغلی تر څو شـیبو وروسـته زید د بیسـتري څخه پورته سـو څو شـیبې پر ځای ناسـت وو بیا يي تلیفون راواخیســـتی نمبر ته يي وکتل ملګری يي وو کله چي يي



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوکي کړ تر روغبړ وروسته يي ورته وويل: دا يو ګوړی مخکي تا د ښځي په اواز خبري راسره کولي؟

ملګري يي وويل: يا ياره زه نه وم زه خو خبر يم چي ته پر دا وخت راکښيني نو ځکه تر هغو زنګ نه دروهم.

کله چي زيد د ملګري سره خبري خلاصي کړي نو ولاړ سو او تشناب ته ولاړی کله چي د تشناب څخه راووتئ مخ او بدن يي وچ کړل بيا يي خپل تليفون راواخيستی او د نمبرو ليست ته ولاړی هلته يي وليدل چي يونيم ساعت مخکي د بل چا زنګ راغلی وو، زيد هغه نمبر ته زنګ ور ووهلی مسکان په دفتر کي وه چي تليفون ته يي زنګ راغلی مسکان چي وکتی نو وېليدل چي د زيد زنګ دی، مسکان موسکی سوه بيا يي عايشي ته په کرار اواز ور ناره کړه: عايشي! عايشي!

عايشي چي ورته وکتل مسکان ورته وويل: زيد دی.

عايشي ورته وويل: اوکي يي که چي څه وايي.

مسکان وويل: يا اوس يي نه پورته کوم مه يي کوه چي زنګونه راووهي په دي رکم مي قدر ورته زياتيږي اوس که يي په اول زنګ تليفون پورته کم بيا مي قدر ورته کميږي.

د زيد ناشته اماده سوه خو زيد لا هم مسکان ته زنګونه ور وهل او فکر يي خراب وو چي دا څوک وه نو ځکه يي اواز اوريدو او معلوماتو ته تلوار وو او زنګونه يي ور وهل خو مسکان د زيد تليفون ته جواب نه ورکوئ، کله چي د غرمي د ډوډی وخت سو او په دفتر کي وقفه سوه نو مسکان دباندي ووتل او په يو ارام ځای کي يي زيد ته زنګ ور ووهلی، زيد د ملګرو سره په باندار



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصـــروف وو چي تليفون ته يي پام ســو نو وېليدل چي د ســهار نمبر دی نو ژر ولاړ ســـو او د ملګرو څخـه ليري ارام ځـای تـه ولاړی او تليفون يي اوکې کړ: بلي!

مسکان بيا په مينه او ناز ورته وويل: سلام عليکم ښاغلي.

زيد وويل: وعليکم السلام.

بيا زيد وويل: سهار تا زنګ راوهلی وو چي زه بيده وم؟

مســـکان وويل: هو ولي بد خو بـه نـه يي دربـاندي لګيدلی زيد صاحبه.

زيد وويل: يا بد ندی راباندي لګيدلی خو زه بيده وم تاسو مي وهم نه پيژندلاســت ما فکر کوی زما ملګری دی خو بيا مي وروســته ډير زنګونه پسي در ووهل خو تا نه پورته کوئ.

مسکان وويل: ښه ولي دي زما خبرو ته داسي تلوار وو؟

زيد وويل: يا تلوار مي نه وو صــرف مي دا معلومول چي څوک ياست؟

مسکان وويل: ښه نو ته ما نه پيژنې؟

زيد وويل: يـا ولا ذهن تـه مي نـه راغلې چي څوک يي تـه خپلـه ځان راته معرفي که.

مسکان وويل: ښه داسي ژر؟

زيد په څه غوسه الفاظو وويل: نو ولي کال وخت په نيسې په يوه پيژندګلوی؟

مسکان وويل: ښه ته څومره خوشک او غوسه ناکه يي.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زید وویل: یا خوشک نه یم خو ته وایي داسي ژر ځان در وښیم.

مســکان وویل: اخـه ســمده وبخښــه بیا نه وایم زما نومممم حیاء دی.

زید وویل: حیاء؟

مسکان وویل: هو ولي؟

زید وویل: په دي نامه خو زه څوک نه پیژنم زما نمبر چا درکړ؟

مسکان وویل: زه ستا پخوانی ملګري یم او ستا نمبر مي یو ځای پیدا کړ نو ولي تاته نابلده زنګ نه سي در وهلای؟

زید وویل: یا را وهلای یي سي ولي نه.

مسکان وویل: ښـه نو زید صـاحبه زما وقفه خلاصـه سوه زه بیا وروسته زنګ در وهم.

مسکان تلیفون بند کړ او دفتر ته ولاړه زید بیآ په غوسـه سو چي زما خبره یي نه واوریده او تلیفون یي بند کړ، مســـکان چي کله دفتر ته دننه ورغله نو عایشــې ورته وویل: څنګه ســو زنګ دي ور ووهلی؟

مسکان موسکی سوه بیا یي وویل: هو.

عایشې وویل: پیژندلې خو به یي نه یي؟

مســـکان وویل: یا نه یي یم پیژندلې ویل یي ځان راته معرفي که ما ورته وویل داســـي ژر؟ چي دا مي ورته وویل باره په غوســـه سو.

عایشي وویل: نو بیا؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسـکان وویل: بیا مي ورته وویل چي زه ستا پخوانۍ ملګرې یم او نوم مي حیاء دی ویل په دي نامه زه څوک نه پیژنم،

عایشې وویل: ښه نو اوس مخته څه پلان لرې؟

مسکان وویل: کرار کرار به شناخت ور سره ډیر کم چي ښه مي وزهیروی او پر ځـان مي مئن کړ بیـا بـه نو ورتـه ووایم چي صاحبه ما مسخرې در سره کولې زه واده سوې یم.

عایشـې وویل: مسـکان سـتا په فکر دا ښـه کار دی چي موږ یي کوو؟

مسـکان وویل: ښـه کار خو نه دی خو ده ته به عبرت سـي چي د زړونو ماتول داسي سخت يي.

کله چي ماپښین مسـکان او عایشـه د دفتر څخه رخصـت سوې نو دواړي پارک ته ولاړې بیا یي زید ته زنګ ووهلی، زید د ملګرو سـره مصـروف وو چي تلیفون یي وکتی نو وې پیژندی چي هغه نمبر دی نو تلیفون يي پر کاټ کړ، موسـکان حیرانه سـوه بیا یي زنګ پســـي ور ووهلئ خو زید بیا هم جواب نه ورکوئ، خو تر څو شیبو وروسته یي تلیفون اوکې کړ او وېویل: څه شي دی؟

مسکان وویل: اوه زما ګران زیده دومره غوسه؟

زید وویل: تا تلیفون ولي راباندي بند کړ؟

مسـکان وویل: خو وظیفه مي شـروع سـول تفریح وه بیا مي تاته زنـګ ووهلی.

زید وویل: ته چیرې یي راسره ووینه.

مسکان وویل: داسي ژر نو چیرې در سره وینم زما زیده.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيد وويل: سمده نو بيا تليفون مه راکوه.

زيد دا وويل او تليفون يي بند کړ، مســـکان عايشـــې ته وويل: عايشـــې دا څومره غوســـه ناکه دی تليفون يي راباندي بند کړ خو زه يي هم نه پسي پرېږدم.

مسکان بيا زيد ته زنګ ووهلی خو زيد چي وليدی نو بند يي کړ، مســکان زنګونه ور وهل خو زيد نه پر اوکې کوئ، مســکان او عايشـه د سـودا لپاره مغازې ته ولاړې او هلته په سـودا مصـروفه وې چي پـه دي وخـت کي زيد او ملګري يي هم مغازې ته راغله د هغو په لوړ اواز خبرو مســکان مخ ور واړوی چي ويني چي دا څوک دي چي داسي په لوړ اواز خبرې کوي، مسکان چي کله هغو ته وکتل نو زيد يي وليدئ، مسـکان عايشـې ته ور ناره کړه: عايشې؟! عايشې؟!

عايشې وويل: څه؟

مسکان په کښته اواز او د زيد خواته اشاره وکړه او ورته ويويل: زيد!

عايشه پوه نسوه نو ځکه يي وويل: څه؟!

مسکان بيا د زيد خواته اشاره وکړه او ورته ويويل: زيد دی زيد!

عايشې چي وکتل نو زيد يي وليدئ او پوه سوه چي مسکان د زيد په اړه ورته وايي، عايشه د مسکان خواته ورغله او ورته ويويل: دی دلته څه کوي؟

مسکان وويل: نو زه څه په خبره يم.

بيا مســـکان وويل: درځه درځه لوړه دوهم منزل ته چي اوس مو ونه ويني.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي مســـکان او عایشـــه لوړ منزل ته وختلې نو زید ته يي زنګ ووهلئ، زيد چي کله تليفون وکتی نو وېليدل چي د مسـکان نمبر دی نو ځکه يي پر بند کړ او جيب ته يي واچوئ، مســـکان بيـا زنـګ ور ووهلئ، خو زيـد بيـا هم جواب نـه ورکوئ او پر بنـدوی بـه يي، د زيـد يو ملګري وويـل: زيـده! څوک دی چي زنګونه درته راوهي او ته جواب نه ورکوې؟

زيد وويل: يو ليونۍ ده ياره ناحقه مي وخت راضايع کوي.

کله چي زيد او ملګرو يي سودا واخيستل نو د پيسو ورکولو لپاره ورغله کله چي د پيســو ورکولو په کتار کي ودريدل نو د پيســو اخيســـتونکي تليفون تـه زنـګ راغلئ کلـه چي هغـه اوکې کړ نو وېويل: سلام څه خدمت مو کولای سم؟

مسکان وويل: وعليکم السلام وبخښه ته زمونږ خدمت نسي کولای دا سـتا ومخته ولاړ د زيد په نامه نفر مو سـخت ضـروري پکار دی که يو وار تليفون ورکړی.

پيسو اخيستونکي وويل: سمده اغلې.

وروســـته يي ولاړو خلکو ته وويل: وبخښـــئ په تاســـو کي زيد څوک دی؟

زيد وويل: زه يم څه خبره ده؟

پيسو اخيستونکي وويل: ستاسو لپاره تليفون دی.

زيد او ملګري يي حيران سول بيا زيد وويل: زما لپاره؟

وروســـته ورمخته ســـو او تليفون يي غوږ ته ونيوئ وېويل: بلي څوک؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسکان وویل: زه یم زما زیده.

زید حیران سو بیا یي په حیرانتیا وویل: ته؟!

مســـکان وویل: هو زه ګوره څنګه دي زما ږغ وپیژندی لکه چي ډیره مینه راسره کوې.

زید وویل: په اور دي پسـي سـي ستا مینه دا ځای د تلیفون کولو دی چي تا زنګ را ووهلئ؟

مســـکان وویل: څه وکم خو ته مي تلیفون نه اوکي کوې نو ځکه مي د مغازې ولا تلیفون ته زنګ در ووهلئ په دا سپینو کالو کي څومره ښایسته معلومیږې.

زید شا او خوا وکتل چي مسکان چیري ده چي دا زما کالي ویني، خو څه یي ونه لیدل ځکه مسکان په لوړ منزل کي د شیانو شاته پټه وه، بیا زید وویل: اوس دا خبرې پریږده دا ځای ددي خبرو کولو نه دی.

مســـکان وویل: سـمده نه یي کوم خو ته به بیا تلیفون اوکي کوې راباندي.

زید او مســکان چي خبرې کولې په دي وخت کي د مســکان لاس د کم څه ســـره ولګیدئ او هغه لاندي ولویدئ په دي ســـره ټولو هغې خواته وکتل، زید تلیفون کښــیښــوئ او د لوړ منزل پر خوا روان سو، مسکان او عایشه ډیرې وارخطا سوې او ژر د ښځینه کالو په ځای ننوتلې، زید چي کله لوړ منزل ته ورغلی نو وېلیدل چي د شیانو د راشوه کیدو پر ځای هیڅوک نسته، زید غوښتل د ښـــځو د کالو ځای ته ورســـې خو د مغازې ښـــځینه کار کونکې



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل: وبخښئ صاحبه تاسو دننه نسئ تللای ځکه دلته یوازې د ښځینوو سامانونه دي.

زید وویل: سمده وبخښه.

زید بیرته لاندي کښته سو او د مغازې څخه ووتل، مسکان او عایشه هم ژر د مغازې څخه راووتلې او بیا یې زید ته زنګ ووهلئ، زید چي کله تلیفون اوکې کړ نو مسکان ورته وویل: څه خبره وه ګرانه د ښځینوو ځای ته دي څه کول چي ورغلې زما لپاره دي کالې رانیول؟

زید وویل: یا په تا پسي مي کتل.

مسکان وویل: رښتیا؟

زید وویل: ته دا زما سره ویني ولي نه؟

مسکان وویل: در سره وینم خو ستا تلوار ولي دی؟

زید وویل: تلوار مي نه دی خو تا ویل زه ستا ملګرې وم که څنګه زه وایم وبه دي وینم چي کمه ملګرې مي یې؟

مسکان وویل: ښه ته دومره زیاتي ملګرې لرې چي درک یې در څخه ورک دی؟

زید وویل: خیر ډیري خبرې مکوه اوس راته ووایه راسره ویني که یا؟

مسکان موسکۍ سوه بیا یې وویل: ممم یا.

زید وویل: انو سمده.

په دي سره یې تلیفون بند کړ او د مسکان نمبر یې مصروفیت او بلاک لیست ته واچوئ، مسکان چي هر څومره زنګونه ور



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووهل تليفون يي په مصــروفيت کي وو بيا يي عايشــې ته وويل: فکر کوم زما نمبر يي مصروفه کړ.

عايشي وويل: نو اوس به څه کوې؟

مسکان وويل: فکر به پر وکم.

کله چي سـهار سـو او لمر راوختئ زيد لا هم بيده وو چي تر څو شېبو وروسته يي ورور خالد اطاق ته راننوتئ زيد يي وېښوروئ ورته وېويل: زيده!؟ زيده؟!

زيد د خوب په اواز ورته وويل: څه خبره ده لالا؟

خالد وويل: بي عقله خپل تليفون دي چيري دی چي ملګرو ته دي زما نمبر ورکړيدی؟

زيد وويل: ولي څه خبره ده؟

خالد وويل: يوه انجلۍ ده دومره زيات زنګونه راوهي وای زيد ته تليفون ورکه پکار مي دی.

زيد وويل: څوک ده؟

خالد زيد ته تليفون ونيوی او ورته وېويل: واخله تليفون ولاړ سه خبرې ور سره وکه د حياء په نوم يو انجلۍ ده.

زيد وويل: افففف دا انجلۍ خو به ما ليونی کړي ته راکه تليفون.

زيد چي تليفون غوږ ته ونيوئ نو وېويل: اې انجلۍ ته به اخير زما څخه ليونی جوړ کړې.

مسکان وويل: هو زه هم داغه غواړم چي ته ليونی سې.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيد وويل: ولي څه بد مي در رسـولي دي زه خو دي پيژنم لا نه چي څوک يي څنګه يي؟

مسکان وويل: تا دا زما تليفون مصروفيت ته ولي واچوئ؟

زيد وويل: وبخښه زه بيديږم لالا بيا مه په تکليفوه.

وروسته زيد تليفون بند کړ او بيده سو، خالد هم تليفون واخيستئ او ولاړئ. کله چي زيد راکښـينسـتئ تر حمام وروسـته يي خدمتګار ته وويل: زما ناشته دي ولي نه ده تياره کړي؟

خدمتګار وويل: مشـر صـاحب ويل چي زيد ته ووايه چي لاندي راسه يو ځای ناشته کوو مشر صاحب هم ناشته نه ده کړي.

زيد وويل: سمده.

تر څو شيبو وروسته زيد د ناشتي لپاره لاندي کښته سو لومړی يي پلار ته سـلام ووايه او بيا د ډوډئ خوړلو ته کښـينسـتئ، کله چي ډوډئ وخوړل سـول د زيد پلار وويل: زيده! راسـه دا يو څه حسابونه دي دا ورسوه کمپيوټر ته.

زيد وويل: سمده بابا.

زيد د پلار تر څنګ کښـينسـتئ او په کمپيوټر مصـروفه سـو، تر څو شـيبو وروسـته د کور تيليفون ته زنګ راغلئ، کله چي د زيد پلار تليفون اوکي کړ نو وېويل: بلي السلام عليکم!

پر تليفون مسکان وه هغي وويل: وعليکم السلام.

د زيد پلار وويل: څوک؟

مسکان وويل: زيد په کور کي دی؟

د زيد پلار وويل: هو څه يي کوې؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسکانوویل: زما او د هغه شخصي خبري دي.

د زید پلار ډیر پریشانه سو بیا یي وویل: څنګه شخصي؟

مسکان وویل: هغه زما او د زید ترمنځ خبره ده ته څوک یي چي پوښتني یي کوې؟

د زید پلار ډیر په درد او غوســـه کي ســـو بیا یي په درد زید ته تلیفون ونیوئ.

زید وویل: څوک دی بابا؟

پلار یي په غوسه ورته وویل: واخله خپله خبري ور سره وکه.

زید هم حیران ســـو چي پلار مي ولي په درد کي دی خو کله چي یي تیلفون غوږ تــه ونیوئ نو مســـکان ورتــه وویـل: اوري زید ګرانه؟

زید د مســـکان د اواز په اوریدو جټکه وخوړه او ناوړي یي تیري کړې، پلار یي د تلیفون اواز لوړ کړ زیـد ورتـه وویـل: اورم مهرباني څه خدمت؟

مســـکان پوهیدل چي زید د پلار تر څنګ ناســـت دی او د تلیفون اواز هم لوړ دی نو ځکـه یي ورتـه وویل: څـه خدمت بیا څه معنا مخکي خو دي داسي خبري نه راسره کولي اوس څه در وسوه؟

زید بیا پـه وارخطـایۍ نـاوړي تیري کړې ورتـه وېویـل: ته ګوره اغلي زه مصروفه یم مزاحمت مه راته کوه!

مسکان وویل: مزاحمت؟ دا اوس په تا څه وسول هغه زما او ستا د میني او محبت خبري چي سوې وې هغه پر دي ودریدي؟

زید وویل: اغلي دا تاسو څه وایست درواغ بنه کار نه دی.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسکان وویل: ګوره که ته داسي خبرې کوې نو زه ځان وژنم.

په دي خبره سره عایشه او مسکان دواړې پټې په خندا سوې بیا زید وویل: ګوره اغلي داسي خبرې مکوه زما پلار مي تر ...

زید لا د پلار خبره پوره کړې نه وه چي مسکان ورته وویل: د پلار په کیسه کي مه کیږه ته ولي د هغه سپین ږیري څخه دومره زیات بیریږې؟

کله چي مسکان سپین ږیری ووایه نو په دي وخت کي د زید د پلار حوصله ختمه سوه او تلیفون یي بند کړ او زید ته یي په درد وویل: ښه ستا ملګرتیا د داسي بي لارو انجونو سره ده تا لا هغه خپل عادت نه دی پری ایښئ؟

زید وویل: بابا زه په خدای قسم کوم چي زه دا انجلۍ نه پیژنم ته د خالد لالا څخه پوښتنه وکه ما تلیفون نه پر پورته کوئ بیا یي خالد ته زنګ را ووهئ چي ده ته تلیفون ورکه هلته چي مي هم جواب کړه او تلیفون مي یي مصروفه کړ اوس یي دا دی د کور تلیفون ته زنګ راووهلئ په ما باور وکه بابا.

پلار یي وویل: زویه عزت که یو وار د چا څخه ولاړی بیا هیڅکله نه راګرځي هم دي د ځان پر عزت پام کوه او هم زما د عزت خیال ساته چي په دوستانو او ملګرو کي مي سر راکښته نکړې که څوک یو وار بدنامه سو نو بیا ټول دوستان او ملګري د شک په سترګه ورته ګوري او غلط ګمانونه باندي کوي دا اوسنۍ ځني انجونو خو بي عقلاني دي د ځان او کورنۍ په عزت نه پوهیږي ته خو عقلمند یي هیڅ کله د یوې بي وزلي عزت ته شرموښ کیږه مه زما مور به ماته زما په ځوانۍ کي ویل چي زویه که غواړې چي ستا خور او لور ته څوک په بد نظر ونه



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوري نو هیڅکله د بل چا خور او لور ته په بد نظر مه ګوره ویل یي زویه هیڅ ځوان او هیڅ پیغله بي واده نه پاته کیږي نو شهوت په حرامو مه اموخته کوه که نه بیابه په حرامو کي دومره غرق سې چي حلال به بي خونده درته معلومیږي ځکه فحشاء د سـریښــو ډنډ ته ورته ده که پکښــي ولویدي بیا ځني وتنه ډیره مشـکله ده خدای دي وکړې چي دا زما خبرې په ژوند کي عملي کړې زویه.

زید وویل: سمده بابا ولي نه.

تر څو شیبو وروسته زید پلار ته وویل: بابا کار مي خلاص کړ.

پلار یي وویل: ماته یي راکه.

زیـد کمپیوټر او کتـابچې پلار تـه ورکړې پلار چي یي وکتـل وېویل: بس ژوندی اوسې زویه.

زید وویل: بابا ماته نوره اجازه ده؟

پلار یي وویل: هو هو ورسه.

کله چي زید دباندي ووتئ نو د جیب څخه یي تلیفون راوکښــئ او مسکان ته یي زنګ ور ووهئ، مسکان په دفتر کي وه چي زنګ ورته راغلئ کله چي یي تلیفون ته وکتل چي زید دی نو موسـکی سوه وروسته یي تلیفون همداسي پر میز کښیښوئ او خپل په کار اخته سول، زید زنګونه ور وهل خو موسکان نه اوکي کوئ، زید ډیر پـه درد او غوســـه کي وو ډیر زنګونـه یي ور ووهل خو مسـکان جواب نه ورکوئ، مسـکان چي کله د دفتر څخه رخصـت سول نو زید ته یي زنګ ووهئ، زید د ملګرو سره ناست وو چي



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله يي تليفون ته وکتل نو يو دم پورته سو، ملګرو يي وويل: څه پيښه سوه؟

زيد وويل: هغه بي عقلې زنګ راووهلی.

زيد چي تليفون اوکې کړ نو مسکان وويل: بلي زيده!

زيد په درد وويل: بلا دي تا ووهي بي عقلې سـهار دي د پلار ومخته وشـرمولم سـتا په خبرو هغه زه ډير وترټلم تا داسـي ولي وکړه ته څوک يي؟

مسکان موسکی سوه بيا يي وويل: زه پوهيدم چي پلار دي ناست دی نو ځکه مي داسي خبرې وکړې چي تا په ووهم.

زيد وويل: ولي څه پيښـه ده څه بد مي در رسـولي دي چي په وهي مي؟

مسـکان وويل: هيڅ بد دي نه دي را رسـولي خو بس دا سـتا زهيرول او په عذابول بنه خوند راکوي.

زيد وويل: رښتيا ووايه ته څوک يي؟

مسـکان وويل: بنـه ددي لپاره درته ووايم چي ته راسـي بيا مي ووهې؟

زيد وويل: يا وعده کوم چي هيڅ نـه در کوم بس تـه مـازي ځان راوښيه او راسره ووينه.

مسـکان وويل: سـمده در سـره وينم خو اول به زما څلور شـرطه منې!

زيد وويل: زما قبول دي منم يي خو ته راسره ووينه.

مسکان وويل: يو واري خو شرطونه واوره.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زید وویل: ستا هیڅ شـرط ماته ناممکینه نه دی د خدای په توکل به هر شرط پوره کم.

مسکان وویل: ښه؟

زید وویل: هو شرطونه دي وایه.

مسکان وویل: سمده اول شرط ماښام درته وایم چي وخت پیدا کم زنګ دروهم.

زید وویل: سمده زه درته انتظار یم.

مسکان په مینه او موسکا وویل: سمده.

کله چي ماښام سو نو زید پر پلنګ ناست وو او د مسکان د تلیفون په انتظار وو، مسکان څه وځنډیدل زید به څو څو واري تلیفون ته وکتل بیا به یي ساعت ته وکتل خو د مسکان د تلیفون درک نسو معلوم، زید د ډیر انتظار څخه پر پلنګ سر ایښی وو او سترګې یي پټې سوي وې چي تلیفون ته یي زنګ راغلی، کله چي زید تلیفون راواخیستئ نو وېلیدل چي د مسکان زنګ وو نو ژر یي اوکې کړ او د خوب په اواز یي ورته وویل: بلي؟

مسکان وویل: السلام علیکم.

زید وویل: وعلیکم السلام.

مسکان وویل: بیده خو نه وې؟

زید وویل: یا مازي مي سترګې پټي سوي وې.

مسکان وویل: زه ډیره بخښنه غواړم چي وځنډیدم او بیا مي ته د خوبه وایستي.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زید بیداره ســـو بیا یي وویل: یا کمه خبره نده بنـــه اوس دي شرطونه ووایه.

مسکان موسکی سوه بیا یي وویل: ولي دي داسي تلوار دی زما د لیدو تږی یي؟

زید وویل: که ته پر خپله خبره دریږې او تر شـــرطو وروســـته راسره ویني نو شرطونه دي ووایه زه یي پوره کوم.

مســـکان وویل: هو زه پر خپلـه خبره دریږم خو کـه تـه زمـا دا شرطونه پوره کړې هغه وخت.

زید وویل: ستا هر شرط ماته قبول دی.

مسکان وویل: ګوره زما شرطونه دومره اسانه ندي.

زید وویل: ته دي شرطونه ووایه پوره کول یي ماته پریږده.

مسکان وویل: بنه؟

زید وویل: هو.

مسکان وویل: بیابه نه وایي چي دا شرط دي نسم پوره کولای یا نوري بهاني.

زید وویل: یا نه وایم.

مسکان وویل: سمده نو زما لومړی شرط دا دی... پریږده یي ته یي نسي کولای.

زید په درد او غوسه وویل: شرط دي وایه.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسکان وویل: سمده نو زما لومړی شرط دا دی چې ته به ټولو هغو انجونو ته ورځې او بخښنه به ځنې غواړې چې تا پرې ایښي دي او زړونه دې ورمات کړیدي.

زید وویل: دا بیا څنګه شرط دی؟

مسکان وویل: ما نه وه درته ویلي چې ته یې نسې کولای؟

زید وویل: سمده کولای یې سم زه ورځم.

مسکان وویل: پوهیږم سخته ده خو تا دا فکر نکوئ چې زه د هغوی په احساساتو او زړونو لوبې کوم زړونه یې ورماتوم پر هغو به څه تیریږي؟

زید د غمه وخندل بیا یې وویل: اغلې تا یوازې دا لیدلي دي چې ما د هغو زړونه ورمات کړل په احساساتو مې یې لوبې وکړې خو زه دې نه یم لیدلی چې هغوی مې زړه رامات کړ زما په احساساتو یې لوبې وکړې دا دې ندي لیدلې چې هغوی زه صرف د مطلب پوره کیدو اله ګرځولی وم د هرې یوې سره چې به مې مینه پیل سوه چې خبر به سوم زه به یې دریم و څلورم یار وم ځینو به د پیسو لپاره مینه زما سره کول خو اصلي مینه به یې د بل چا سره کول ځنې به مې په دې خاطر ژوند ته راتلې چې زه به یې د نورو سره د کړو ګناهو عیب ور پټ کم ځینو به مینه راسره کول خو چې تر ما به یې بل سم پیدا کړ نو زه به یې پریښولم د هغه سره به یې لاره جوړه کړه.

د زید تر سترګو مړاوې اوښکې وبهیدې بیا یې وویل: تا یوازې دا اوریدلي دي چې زه بد یم ما د ډیرو انجونو زړونه ورمات



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړيدي خو دا دي ندي ليدلي چي د هغو په چمبازۍ سره به پر ما څه تير سوي يي.

زيد تر څو شېبو پوري غمګين وو وروسته يي وويل: سمده پر دي هر څه سربيره به بيا هم زه ورسم او د هري يوي ښځه به بخښنه وغواړم ته مي څاره.

زيد ټليفون بند کړ د خبرو په اوريدو يي مسکان هم پريشانه سوه تر څو شېبو پوري يي تليفون ته کتل، سبا ته په دفتر کي مسکان په فکرو کي ډوبه وه چي عايشې يي پر اوږه لاس کښېښنوی ورته وېويل: څه خبره ده؟

مسکان وويل: عايشې د يوي ښځي تر سترګو ډېر ژر او په نه څه اوښکې راځي خو د يو ځوان تر سترګو اوښکې راتلل د هغه پر يو لوی غم او درد دلالت کوي.

عايشي وويل: څه مطلب؟

مسکان وويل: ماښام چي مي کله هغه اول شرط زيد ته ووايه نو هغه راته وويل........ او په ژړا يي وويل چي د هغه پر زړه هم د مطلبي انجونو د لاسه سخت دردونه تير سويدي چي رښتيا سي عايشې موږ يوازي د خلکو په بد پسي ځيرني کوو که يي په ښو پسي وکړو نو تر بدو به يي ښه څو چنده زيات پيدا کړو.

عايشي وويل: رښتيا هم نو بيا يي څه ويل؟

مسکان وويل: اخيره کي ضدي سو چي اوس به دا شرط پوره کوم.

عايشه موسکۍ سوه بيا يي وويل: ښه؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسکان د دفتر څخه د یوې ورځې لپاره رخصت واخیستی، کله چي دباندي ووتل نو زید ته يي تليفون وکړ او ورته ويويل: چيري يي د خيره؟

زید وويل: ځم ستا د اول شرط د پوره کيدو لپاره روان يم.

زید وويل: اوس دا يم د کور څخه وځم ځاره مي.

مسکان فکر وکړ که ورته ووايم چي سمده ځارم دي نو زيد به حتماً ددې په ليدو پسي تلاښ کوي نو ځکه يي ورته وويل: يا زه دي نه ځارم خو ته په صداقت دا شرط سر ته ورسوه زه په تا باور لرم چي چم به نه کوې.

زید وويل: ځه پريږده ستا دا اوس مي په دي خبرو زړه مه را ښه کوه ماښام خو دي ښه انتقادونه راباندي وکړل.

مسکان د زيد سره خبري کولي چي په همدي حالت کي رخشي ته وختل او رخشوان ته يي د تلو وويل، وروسته يي تليفون بند کړ او د زيد د کور پر طرف روانه سول کله چي هلته ورسيدل نو زيد هم په موټر کي د کوره راووتئ او د خپلو ملګرو پر طرف روان سو او کتابچه يي کتل چي د هري ملګري نوم او پته پکښي ليکلي وه پر هغه مطابق به ورتلئ، مسکان د شا لخوا په رخشه کي په زيد پسي روانه وه او هغه به يي ځارئ، زيد چي به هري انجلۍ ته ورغلی او بخښنه به يي ځني غوښتل نو هري يوي به په چپلاخه واهه، په دي سره به مسکان هم خنديدل او هم به پريشانه سول، زيد ټولو ملګرو ته ورغلی او بخښنه يي ځني وغوښتل او د نن ورځې شرط يي پوره کړ او کورته ولاړئ، کله چي کور ته ننوتئ نو پلار او ورونه يي د ډوډۍ سترخوان ته ناست وه پلار يي ورته وويل: راسه زويه ډوډۍ وخوره.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيد وويل: بابا خواته مي نکيږي ځم چي بيده سم.

پلار يي وويل: سمده زويه ورسه.

زيد لوړ خپل اطاق ته ولاړئ، کله چي مســـکان د کور د کارو فارغه ســـوه نو زيد ته يي تليفون وکړ خو زيد پر کټ د کالو او بوټو سره بيده سوئ وو تليفون يي نه اوريدئ، مسکان پوه سول چي زيد بيده ســويدی نو ځکه يي بيا تليفون نه ور وکړ، کله چي سهار سو نو زيد راکښينستی او د ځان سره يي په ستړيا وويل: افففف دا څه وخت دی؟

کله چي يي د کلکين دباندي وکتل نو وپليدل چي سهار سويدی بيا يي وويل: اوه دا خو سهار سويدی.

زيد چي کله تليفون وکتی نو وپليدل چي د مســـکان زنګ ورته راغلی وو، زيد چي زنګ ور ووهلئ نو بند وو بيا يي تليفون پر کټ وغورځوی او دی تشناب ته ولاړئ، تر ناشتي وروسته د زيد تليفون ته زنګ راغلی، زيد چي کله وکتئ نو د مسکان نمبر وو بيا يي خپل پلار ته وکتل جواب يي نه ورکړ او دباندي ووتئ، کله چي يي ارام ځای پيدا کړ نو مســـکان ته يي تليفون وکړ، تر څو زنګو وروســـتـه مســـکان تليفون پورتـه کړ او تر روغبړ وروسته زيد وويل: ستا لومړئ شرط مي پوره کړ.

مسکان موسکی سوه بيا يي وويل: مخ خو به دي درد نکوي؟

زيد وويل: ښه تا څارلم؟

مسکان وويل: هو خود مي څارلي.

زيد په خوابدتيا وويل: نو خوند به يي درکړی وي چي هغو زه وهلم؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسکان په موسکا وويل: هو.

بيا مسکان وويل: خير دا د جسم چکې (څپېړې) دومره درد نلري لکه هغه درد چي زړه او روح ته رسيدلی وي شايد په دي چکو سره د هغو د زړه دردونه څه آرام سوي وي.

زيد وويل: ته دي دا نصيحت اوس پريږده دوهم شـرط دې راته ووايه.

مسکان موسکی سوه بيا يي وويل: مننه چي لومړی شرط دي په پوره صداقت سرته ورسوئ پاته دوهم شرط سو هغه بيا مابنام درته وايم.

زيد وويل: ولي اوس؟

مسکان په خندا وويل: ځکه يواري به دي د لومړي شرط دردونه ارام سي.

زيد وويل: سمده چي خوښه دي يي.

مسکان د زيد څخه خدای په امانی واخيستی او دفتر ته روانه سول، زيد خپل د ملګرو پر طرف روان سو کله چي زيد هغه هوټل ته ورسيدی چي دده ملګرو باندار پکښي کوئ نو خپل موټر يي غوښتل يو بغلته ودروي چي په دي وخت کي يي شاته موټرسيکل ته ختونکی کس په ووهلی او غوځار يي کړ، زيد ژر د موټره راکښته سو او د هغه پر طرف يي ور وځغستل او راپورته يي کړ.

زيد وويل: ډير وبخښه ما نه يي ليدلئ.

هغه کس په موسکا زيد ته وويل: يا هيڅ خبره نه ده تاسو بخښه کوئ چي زه مو د دريدو د ځايه ژر ليري نسوم.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيد چي کله لاندي وکتل نو وېليدل چي د هغه کس را اخيســـتي خواړه يي ټول پر مځکــه ور غورځولي او چټـل کړيـدي او موټرسيکل يي هم څو ځايه مات سويدی.

زيد وويل: اوه زما خدايه دا مي څه وکړه ســـتاســـو خواړه او موټرســـيکل مي دواړه در خراب کړيدي تاســـو راځئ زه به مو موټرسيکل در جوړ کم او خواړه به هم نور درته راواخلم.

هغه کس وويل: يا وروره هيڅ خبره نه ده ځم نور خواړه را اخلم تاسو خپل موټر وګورئ که خراب سوی وي تاوان به يي درکم.

زيد په حيرانتيا وويل: عجبه ســـړی يي ياره ملامتيا هم زما وه تاوان هم ما در ورسوئ او تاوان هم تاسو راکوئ؟

هغه کس بيا په موســـکا وويل: يا وروره خو غلطي زما وه تاســو موټر دروئ زه بايد ژر ليري سوی وای تاسو خو د شا طرف نه ليدئ نو ســتاســو هيڅ ملامتيا نه ده ما بخښـــلي ياســـت تاســو مي وبخښئ.

وروسته هغه کس په موسکا د زيد څخه خدای په امانی واخيستي او ولاړئ،

کله چي زيد هوټل ته ننوتئ په لاره کي د خپل يو ملګري اقبال سره مخ سو تر روغبړ وروسته اقبال وويل: څه کيسه وه هلته زه په داغه درته رالم چي معلومه کم څه خبره ده؟

زيد وويل: ياره عجبه ځوان وو ما موټر دروی د شــــا پر طرف روان وم چي پــه ده کي مي ووهلی او ســـخـت تـاوان مي ور ورســـوئ چي ورکښـــته ســـوم چي بخښـــه ځني وغواړم او تاوان ورکم خو هغه ده زما څخه مخکي بخښه وغوښتل ويل يي که دي



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

موټر خراب سـوی يي تاوان به يي درکم په داسـي حال کي چي دده موټرسيکل او خواړه مي ډير ور خراب کړل.

اقبال وويل: خير پريږده يي ياره ښـه زيده! پروند چيري وي ټوله ورځ مو زنګونه دروهل خو تا جواب نه راکوئ خير وو؟

زيد وويل: هو خير وو.

بيا يي اقبال مخته په حيرانتيا وکتل او وېويل: زيده دا مخ دي ولي داسي سور دی؟

زيد شاوخوا وکتل بيا يي کرار وويل: رښتيا سور دی؟

اقبـال وويل: هو ياره تک ســور دی لکه يو چا چي ښـــه ډيري چپلاخې وهلئ يي خو دا ولي ياره؟

زيد اقبـال تر لاس ونيوی ورتـه وېويل: هغـه د تليفون انجلۍ نده؟ هغې پر ما د ليدو لپاره څو شرطونه کښيښول ما په احساساتو کي ورته وويل چي زما دي ټول شرطونه قبول دي.

اقبال وويل: نو بيا؟

زيد وويل: نو بيا يي پروند اول شـرط دا راباندي کښـيښـوئ چي زه بايد د هغو ټولو انجونو څخه بخښنه وغواړم چي ما پري ايښي دي او زړونه مي ورمات کړيدي.

اقبال وويل: ښه نو بيا څه وسوه؟

زيد وويل: نو ما هم ور ســره ومنل او ولاړم د ټولو انجونو څخه مي بخښنه وغوښتل.

اقبال وويل: نو دا مخ دي ولي سور دی؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زید وویل: هري یوې ته چي به مي د بخښنـــې ویل هغې به اول چپلاخه راکول بیا به یې بخښلم.

په دي سره اقبال وخندل زید وویل: مه خانده بې عقله!

اقبـال وویـل: نو تـا بـه درواغ ورتـه ویلي وای چي ولاړم د تولو څخه مي بخښنه وغوښتل هغې نو ته څه لیدلي؟

زید وویل: یا زه چي چاتـه د یو څـه وعده ورکم بیا پر وعده وفا کوم او بل هغې زه د شا لخوا ځارلم هم.

اقبال وویل: ښه؟

زید وویل: هو یاره.

بیا زید وویل: ګوره چي دا د چپلاخو په کیســه بل څوک در څخه خبر نسي بیا مي عزت کمیږي.

اقبال وویل: سمده نه ورته وایم یو څه جیب خرڅ نو راکه.

زید پـه درد پیســـي ورکړې او ورتـه وېویل: واخلـه فقیره پر دا کوچنی خبره رشوت غواړې.

ماښام زید پر بام د مسکان د تلیفون انتظار کوئ چي تر څو شېبو انتظار وروسته زنګ راغلی، زید په بي صبرۍ سره ژر تلیفون راپورته کړ او اوکې یې کړ وېویل: بلي!

مسکان وویل: بلي السلام علیکم.

زید وویل: وعلیکم السلام.

مسکان وویل: څنګه یې زید صاحبه ورځ دي پخیر سوه.

زید وویل: هو الحمدالله پخیر سوه پر تا هم پخیر سوه؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسکان اوږده ساه واخیستل بیا یي وویل: هو پخیر سوه.

زید وویل: داسي دي راته وویل لکه ډیره چي ستړی یي؟

مسکان وویل: خامخا نو د دنیا ژوند دی ستړیاوي خو لري د دنیا ژوند خو مســـابقي ته ورته دی که ونه ځغلي تر پښـــو به لاندي سې.

زید وویل: هو ربښتیا هم نو ته وظیفه لرې چي داسي ستړې سوې یي؟

مسکان وویل: هو یو کوچنۍ وظیفه لرم.

زید تر څو شیبو وروسته وویل: ښه ته دا راته ووایه چي ما د څه وخت راهیسي پیژنې؟

مســکان موســکۍ ســوه بیا یي وویل: ښــه ســتا پوښــتنې بیا شــروع سوې؟

زید وویل: نو ته راته وایي ولي نه؟

مســکان وویل: درته وایم چي یواري خو زما شــرطونه ټول پوره کړې.

زید وویل: سمده پوره کوم یي.

مســـکان وویل: زما دوهم شــرط دا دی چي اول به ســـهار وختي راکښیني.

زید وویل: د څه لپاره؟

مسکان وویل: ته خو مي خبرې پوره کولو ته پرېږده.

زید وویل: ښه ووایه.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسکان وویل: هر سهار به وختي راکښیني چي لمونځ، تلاوت او ناشته دي وکړل بیا به بیدیږي نه.

زید وویل: ډیره سخته ده چي بیده نسم.

مسکان وویل: دا ستا اوس عادت سویدي او پوهان وایي چي یو کار په دوو یا درو ورځو کي عادت نیول کیږي او په یوه میاشت کي مکمل د هغه کار په نکولو سره دا عادت لمنځه ځي نو ته به یو څه وخت پر ځان تکلیف تیروې او دا عادت به لیري کوې.

زید وویل: ښه بیا څه؟

مسکان وویل: کله چي دي سهار ناشته وکړل د کار وخت سو نو ته به ځانته وظیفه پیدا کوې هر څنګه وظیفه چي وي خو خپل په کمپنۍ کي به نه وي.

زید حیران سو بیا یي وویل: دا بیا څنګه شرط دی زه کار ته څه ضرورت لرم پلار مي هر څه لري او وظیفه خو به زه هر ځای د سترګو په رپ کي پیدا کم.

مسکان وویل: غیرتمن او اصیل ځوان او نارینه هغه دی چي د خپل لاس ګټلې وخوري په نورو پوري نه یي پیوند خدای نکړه که دي سبا پلار نه وو نو بیا څه کوې بله خبره دا چي تا وویل د سترګو په رپ کي به وظیفه پیدا کم زه به دي هغه وخت ومنم چي ته یي پیدا کړې.

زید وویل: سمده پیدا کوم یي ګوره یي.

مسکان وویل: سمده سبا تر ناشتې وروسته پسي وګرځه خو هو یو مشوره درکوم که چا وظیفه نه درکړل یا یي رد کړې نو درد او غوسه به نه درولې.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زید وویل: سمده.

مسکان وویل: انو ښه بخت درته غواړم اوس وختي بیده سه چي سهار ته دي خوب پوره سي.

زید وویل: سمده د خدای په امان ښه شپه.

مسکان وویل: تاته هم ښه شپه.

سهار زید په ډېر تکلیف وختي د خوبه راکښېنستی تر لمانځه او تلاوت وروسته لاندي کښته سو او خدمتګار ته یي د خوب په لهجه وویل چي ناشته راتیاره که، خدمتګاران ډېر حیران سول فکر یي وکړ چي سم مو نه واوریدل نو ځکه یي پوښتنه وکړه: صاحبه تاسو ویل څه وکه؟

زید وویل: ناشته راتیاره که.

خدمتګار په حیرانتیا وویل: سمده صاحبه.

خدمتګار په ناشتي تیارولو بوخت سو کله چي یي تیاره کړه او زید ته یي راوړل نو وېلیدل چي زید پر میز بیده سویدی، خدمتګار پر زید خو ناري وکړې چي کښېنه تر څو شېبو وروسته زید کښېنستی او ناشته یي وکړل تر ناشتې وروسته د کوره ووتئ او ولاړئ.

زید یو کمپنۍ ته د وظیفي لپاره ورغلئ کله چي د معلوماتو اطاق ته ورسیدی نو ورته وېویل: وبخښی مشر مو راغلی دی؟

معلومات ورکونکي وویل: تر اوسه ندی راغلئ تاسو ورته په انتظار ځای کي انتظار سئ چي راسي زه به خبر درکم.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيد په انتظار ځای کي پر چوکۍ انتظار سو تر څو شيبو وروسته معلومـاتو ورکونکی انتظـار ځـای تـه ورغلئ چي زيـد تـه خبر ورکړي چي مشـر صـاحب راغلئ، خو چي وپکتل زيد پر چوکۍ بيده ســـويدی، معلومات ورکونکی ورنږدي ســـو او ږغ يي پر وکړ: وبخښئ مشر صاحب راغلئ.

خـو زيـد لا هم بيـده وو معلومــات ورکونکي لاس پر اوږه ورکښيښوئ او ويښوروی او ورته ويويل: صاحبه؟

په دي سـره زيد راکښـينسـتی او معلومات ورکونکي ورته وويل: مشر صـاحب راغلئ تاسو اوس ور سره ليدلای سئ.

زيد خپل اسـناد د ځان سـره واخيسـتل او د کمپنۍ د مشـر دفتر ته ورغلئ تر روغبړ وروســــته د کمپنۍ مشــــر ورته وويل: څنګه راغلي ياست؟

زيد ورته وويل: غواړم ستاسو سره يو وظيفه مخته يوسم.

د کمپنۍ مشـر حيران سـو بيا يي وويل: تاسـو زموږ سـره وظيفه کوئ؟

زيد وويل: هو ولي؟

د کمپنۍ مشـر وويل: سـتاسـو پلار يو لوی سـرمايه دار دی هغه خپله څو کمپنۍ لري خو تاسو ماته د وظيفي لپاره راغلي ياست؟

زيد وويل: بلي هو غواړم دلته وظيفه وکم.

د کمپنۍ مشـر تر څه فکر وروسـته وويل: سـمده وظيفه به درکم تاســـو دا راته ووايســـت چي څومره تجربه لرئ او څومره زده کړي دي کړيدي؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زید خپل استاد ورښکاره کړل بیا یي وویل: دا مي استاد دي خو کار مي تر اوسه بل ځای ندی کړی.

د کمپنۍ مشر چي اسناد وکتل وروسته يي زید ته وویل: ته ګوره زیده تاسو مه خفه کیږی نه خو د پوهنتون څخه ستا د فراغت فیصدي سمه ده او نه هم تاسو تجربه لرئ زما د میلیون هاوو کاروبار دی ستاسو کوچنی غلطي به ما غرق کړي نو ډیر وبخښئ زه تاسو ته وظیفه نسم درکولای.

زید په غوسه خپل اسناد د کمپنۍ د مشر څخه واخیستل او د دفتره ووتئ او د دفتر دروازه یي په زور سره وتړل ټولو کاریګرو د زید خواته وکتل او حیران سول، کله چي زید ووتئ د کمپنۍ د مشر دفتر ته معلومات ورکونکی ورغلی او د کمپنۍ مشر ته یي وویل: وبخښه صاحبه دا څوک وو؟

مشر یي وویل: یو لوچک وو چي ټول عمر په لوچګۍ کي باندي تیر سو اوس ماته د وظیفي لپاره راغلی وو لیونی خو نه یم چي په داسي لوچګانو خپله کمپنۍ خرابه کم بل وار داسي لوچګان مه راپریږده دفتر ته.

معلومات ورکونکي وویل: سمده صاحبه وبخښه.

زید چي کله د کمپنۍ څخه راووتئ نو سخت پریشانه وو فکر یي کوئ چي اوس کم ځای ته د وظیفي لپاره ولاړ سم تر څو شپبو وروسته یوي بلي کمپنۍ ته ورغلئ، خو هلته هم منفي جواب ورکول سو تر داسي حاله پوري چي لسو ځایو ته د وظیفي لپاره ورغلئ خو چي د کمپنیو مالکانو به دده اسنادو او بي تجربګۍ ته وکتل نو منفي جواب به يي ورکوئ، کله چي زید د اخیري ځایه څخه راووتئ نو یو پارک ته ولاړئ او هلته ستړی کښینستئ تر



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو شېبو وروسته يي خپل اسناد وغورځول او په ژړا سو تر څه وخت ژړا وروســـتـه چي څـه آرام ســـو نو تليفون تـه يي زنګ راغلئ، زيد چي خپل ســـر يي په خپلو دواړو لاســـو نيولئ وو تليفون ته وکتل او بيا يي راواخيســتئ چي وېکتل د مســکان نمبر وو، زيد تليفون اوکې کړ او تر څو شـــېبو وروســـته يي په ژړا وويل: حياء زه ناكام سوم ما وظيفه پيدا نکړه.

مسـكان تر څو شـېبو وروسـته وويل: اوس پوه سـوې چي ته هيڅ هم نه يي صرف دي خپل ځان خطايستلئ وو؟ ټولو به داغه درته ويلي وي چي تـه د پوهنتونه په ښـــو نمرو نـه يي فارغه ســـوی تجربې نلرې لوچـک يي د نورو لوچګانو او کوځـه ډبو ســـره ګرځې كه هغوی مخامخ دا الفاظ نه يي درته ويلي خو په زړه کي بـه يي داغـه وه كم وخـت چي تـا د ملګرو ســـره پر عبث کـارو تيروئ کـه دي همدا وخت پر درس ويلو او په خپله کمپنۍ کي پر کار کولو او تجربو اخيســتلو تير کړئ وای نو نن به دي هم ښــه نمرې وړې وای او هم بـه دي تجربې زيـاتې ســـوي وای هري کمپنۍ ولا به تاته د هغوی سره د کار کولو لپاره زارۍ او ننواتې کولای.

زيد په ژړا وويل: حياء زما څخه ډيري لويې تيروتنې سويدي.

مسـكان وويل: اوس هم وخت نه دی تير سر له سبا څخه خپل په کمپنۍ کي وظيفه شروع كه او هر سهار تر نورو وختې راکښينه ځکه ته تر نورو شاته يي او پرمختګ ته ضرورت لرې.

تر څه نورو خبرو وروســـته زيد او مســـكان تليفون بند کړ، زيد خپل اسنادونه ټول کړل او د کور پر طرف روان سو.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماښــام زید د کور پارک ته د پلار لیدو ته ورغلئ او په فکر کي ډوب یي تر څنګ کښینستئ، پلار یي په حسابو بوخت وو زید په زهیره لهجه وویل: بابا!؟

پلار یي وویل: ها زویه.

زید وویل: بابا زه ستا سره په دفتر کي کار کولای سم؟

پلار یي د حیرانتیا څخه چُپ پاته سو او تر څو شیبو وروسته یي د حساب کاغذونه پر میز کښیښول او زید ته یي وکتل او ویویل: څه؟

زید وویل: بابا ماته په دفتر کي کار راکوې؟ زه غواړم کار وکم.

پلار یي نور هم حیران سو بیا یي وویل: څه خبره ده ولي داسي مایوسه معلومیږي زویه؟

د زید تر سترګو اوښکي رواني سوې او په مایوسۍ یي د پلار پر اوږه سر کښیښوئ.

پلار یي وویل: څه خبره ده زویه ژاړه مه د نارینه سره ژړا خوند نکوي ماته ووایه څه خبره ده.

زید وویل: بابا ما خپل ژوند ډیر تباه کړیدی زه هیڅ هم نه یم.

پلار یي پر مخ خپل لاس ور ونیوئ ورته ویویل: هغه څنګه زویه؟

زید د سهار ټوله کیسه ورته وکړل چي داسي ولاړم هیچا کار نه راکوئ..... خو د مسکان په اړه یي څه نه وویل.

د زید پلار موسکی سو زید یي پر مخ د ګرانښت په خاطر کرار ووهلی بیا یي وویل: بي عقله.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یي وویل: زه په دي باوري وم چي یو ورځ به ته حتماً دا احســـاس کوې چي باید د راتلونکي په اړه فکر وکړې او خپل ژوند جوړ کړې نن الحمدالله هغه دی ته پوه ســوې چي د ملګرو سره تر حد زیات وخت تیرول بي ځایه پیسي مصرفول وخت پر بي ځایه او بي فایدې شیانو تیرول دا ټول عبث کارونه دي دنیا د اســتراحت او آرام ځای نه دی په دنیا کي باید کار وکړې وځغلې او ځان تر خپله هدفه ورســوې که نه نورو ته به یو وخت حتمن محتاج کیږې.

د زید پلار تر څه نورو خبرو وروســته وویل: زویه ټوله دفتر او کمپنۍ ستا او د ورونو دې دي هر کله او هر څنګه چي وغواړې کار پکښــي کولای ســې خو زما مشوره دا ده زویه چي ته یو څه وخت هیڅ کار مکوه راځه دفتر ته کښــینه زه او کارکونکي چي کم کــارونه کوو هغه زده کوه پر کاریګرو ګرځه مشــــورې ځني اخله او مشـــورې ورکوه چي زه نه یم ســـفر لرم نو بیا زما کار مختــه وړه کلــه چي دي تجربې پخې ســـوې نو بیا به زه پر کور درته کښینم ته او ورونه به کمپنۍ مخته وړئ.

زید وویل: سمده بابا خوښه مي ده.

پلار یي وویل: انو اوس ورسه وختي بیده سه چي بیا سهار وختي راکښیني او دفتر ته راسره ولاړ سې.

زید د پلار څخه خدای په امانی واخیستی خپل اطاق ته ولاړئ او بیده سو.

کله چي ســهار ســو او د زید د پلار د دفتر وخت ســو نو خدمتګار ته یي وویل: ورسه زید راکښینوه ورتا دفتر ته ځو!



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدمتګار وویل: زید صـــاحب خو ډیر وختي ووتئ ویل دفتر ته ځم.

د زید پلار او ورونو یو و بل ته سـره وکتل او موسـکي سـوه د زید پلار په حیرانتیا وویل: څه؟

خدمتګار وویل: هو خان صاحب زید ډیر وختي ولاړئ.

د زید ورور پـه خندا وویـل: بـابـا نن دا لمر د کمي خوا راپورتـه سو؟

پلار یي په موسـکا وویل: ته یي ګوره چي زید زوی مي تر تاسو ډیر تکړه سي.

خالد وویل: بابا تکړه دي سـي خو چي تل همداسـي سـهار وختي راکښیني او کار وکړي.

زید داســـي وخت دفتر ته تللی وو چي بیله چوکیداره بل هیڅوک نه وه دفتر کي تر څو ساعتو وروسته کاریګر دفتر ته راغلل چي هر یو بـه راتلی او زید بـه یي په دفتر کي په کمپیوټر کي پر کار لیدئ نو د حیرانتیا به یي خوله خلاصـه پاته سوه ټول ډیر حیران وه او ټولو ورته کتل چي په دي وخت کي د زید هغو ته پام سـو کلـه چي یي د هغو طرف تـه وکتـل نو هغوی ټول ژر پر خپلو ځایو کښـینسـتل او په کارو اخته سـول، تر څو شـېبو وروسـته مســـکان راغله عایشــــه هغې ته په خندا ورغله د زید خواته یي اشاره وکړه ورته وېویل: مسکان هلته وګوره.

مســـکان چي کله د دفتر خواته وکتل نو وېلیدل چي زید په دفتر کي ناسـت دی او په کمپیوټر کي مصــروفه دی، مسـکان په دي سره موسکۍ سوه وروسته یي په خپل کار پیل وکړ.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر څو شیبو وروسته عایشې مسکان ته وویل: مسکان وای نن ښاغلی تر ټولو د مخه راغلئ وو دفتر ته.

مسکان وویل: ښه؟

عایشې وویل: هو ټولو ډیر حیران حیران ورته کتل چي دی او داسي کار ناممکینه کار ممکین سویدئ دا خو نو ټوله ستا کمال وو.

مسکان وویل: یا ما خو هیڅ نه دي کړي صرف مي یو څو لاربښوني ورته وکړې نور خو هغه عقل او فکر درلودی د خپل فکر په واسیطه سم سو.

تر څو شیبو وروسته د زید پلار دفتر ته راغلئ او په نرمه موسکا سره خپل دفتر ته ننوتئ، زید د پلار سره تر روغبړ وروسته وویل: بابا وبخښه چي ستا کمپیوټر مي استعمال کړ خو ما باید دا نیمایي حسابونه چي پاته وه باید رسولي مي وای.

پلار یي تر څو شیبو پوري زید ته په موسکا کتل بیا یي وویل: زه خوشبخته یم چي الله ستاسو پخیر اولادونه راکړیدي ستا مور چي کله وفات کیدل نو راته وېویل: سړیه په زامنو به دي هیڅ فکر نه خرابوې چي مور به یي نه یي نو دوی به څنګه لویان سي ښه که بد په دي اړه هیڅ فکر مکوه زه په خپلو زامنو باور لرم زید که څه هم ډیر شوخ دی خو زه پوره باور لرم چي هغه به هم یو ورځ حتماً سمیږي نن د هغي خبره دا دی ثابته سول زه درباندي ویاړم زویه.

زید وویل: مننه بابا.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي د تفریح وخت سو نو عایشه او مسکان د کمپنۍ پارک ته ووتلي، مسکان عایشې ته وویل: عایشې ته همدلته څارنه کوه زه به هلته زید ته زنګ ووهم داســي نه چي زید راباندي راســي یا مي ووینې.

عایشې وویل: سمده ورسه.

مسکان زید ته زنګ ووهلئ، کله چي زید په تلیفون کي د مسکان نمبر ولیدئ نو ژر یي راپورته کړ او اوکې یي کړ، مســکان تر روغبړ وروسته په موسکا ورته وویل: څنګه ده اوله ورځ دي په دفتر کي زید ګرانه؟

زید وویل: اولــه ورځ مي نــه ده مخکي هم راتلم خو نن د کــار لپاره راغلم مخکي د جیب خرڅ اخیستو لپاره راتلم.

موسکان وویل: پوهیږم خو ددي وروسته باید د کار لپاره راسې.

زید وویل: سمده.

زید چوکۍ ته څنګ واچوئ او تر څو شــېبو وروســته یي په نرم ږغ او نرمه موسکا مسکان ته وویل: حیاء ما یو خبره درته کول.

مسکان وویل: ښه مهرباني.

زید وویل: حیاء زما په زړه کي ســتا لپاره مینه پیدا ســویده زه درباندي مئین سوی یم او مینه در سره کوم.

مسکان د زید په دا خبرې د څنګنو څخه خپل د لاسو تکیه ایسته کړه ســیده کښــینســته تر څو شــېبو حیرانه وه بیا یي په خوابدي څیهره وویل: حقیقي مینه او که داســي مینه لکه د دا نورو ســره چي دي کول چي نن د یوې سره مینه سبا د بلي سره مینه؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زید وویل: حیاء زما یو خاصیت دی زه هیڅکله قسم نه اخلم که څه هم پر حقیقت وي ځکه چي ربنتیا خبره قسم ته اړتیا نلري نو ته بیله قسمه باور وکه چي زه در سره د زړه مینه لرم تل مي داسي ژوند کوئ لکه زه چي د کوم څه په لټه کي یم خو راته معلومیدل به نه چي د څه په لټه کي یم خو د کله چي مي ستا سره شناخت سویدئ داسي فکر کوم چي هغه څه مي پیدا کړل چي په لټه کي یي وم.

مسکان وویل: تا تر اوسه زه نه یم لیدلي دا که بدرنګه وم نو بیا؟

زید وویل: لیونی! مینه د زړه څخه او په زړونو کي کیږي مینه په ظیهره پوري اړه نلري ته که هر ډول یي هر څنګه یي زما قبوله یي.

مسکان وویل: سمده خو زه ستا د میني جواب اوس نسم درکولای ځکه ستا یو شرط پاته دی تر هغه وروسته به بیا پر دې موضوع خبري وکړو.

زید وویل: سمده نو ونیسه شرط دي راته ووایه.

مسکان وویل: کله چي د دفتره رخصت سوې زنګ در وهم بیا درته وایم اوس دي کار وکه.

زید وویل: سمده چي خوښه دي وي.

وروسته زید او مسکان خدای په امانی سره واخیستی، کله چي مسکان خبري خلاصي کړې ډیره پریشانه او په فکرو کي ډوبه سوه، عایشه یي تر څنګ کښینستل ورته وېویل: څه خبره ده مسکان ولي داسي خوابدي سوې؟

مسکان وویل: زید د میني راته وویل.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

عایشــې وویل: دا خو ښــه خبره ده ســتا پلان کامیابه ســو نو ته خوابدې په څه یې؟

مسکان وویل: بس داسي بل رکم احساس مي وکړ کله چي هغه د مینې راته وویل نو بدن مي وریږدیدی.

عایشــې وویل: مســکان! آیا داســي خو به نه یي چي ته هم د هغه سره مینه کوې؟

مسکان وویل: عایشــې! دا څه وایې زه یو واده سوې ښځه یم زه او مینه؟

عـایشـــــې وویـل: ایا خاوند تا په خپله خوښــــه کړیدئ یا چي دي کورنۍ ورکولې ایا ستا سره یي مشوره وکړه؟

مسکان وویل: زما خاوند که څه هم کورنۍ مي زما بیله مشورې ورکړم خو بیا هم زه ور ســـره خوشـــحاله یم هغه ډیر نیک او پرهیزګاره انسان دی.

تر څه خبرو وروســته تفریح خلاصــه ســول مســکان او عایشــې بیرتـه پـه کـار پیل وکړ، د کـار پـه شـــروع کي بـه زید د دفتره راووتئ او د کاریګرو سره به په موسـکا ږغیدئ او په کارو کي به یي مرســـته ور ســـره کول، مســـکان به هغه ته د ســـترګو تر کونجو کتل او خارۍ به یي او د هغه موســـکا او نرمو خبرو به خوشحاله کول خو خپل خوشحالي به یي نه ځرګندول.

زید د کاریګرو ســـره مصـــروف وو چي ســاعت ته یي وکتل نو رخصــتۍ ته لږ وخت پاته وو زید ولاړئ او ځان یي تیار کړ تر تیاریدو وروسته یي ساعت ته وکتل وخت پوره وو بیا یي تلیفون وکتئ خو زنګ نه وو ورته راغلئ، زید په دفتر کي په تمه سو،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاریګر تول ووتل خو زید لا هم دفتر کي وو او د مسکان د تلیفون انتظار یي کوئ، تر څو شیبو وروسته د مسکان زنګ راغلئ او زید په تلوار سره اوکي کړ تر روغبړ وروسته زید وویل: ښه تا ویل دریم شرط درته وایم اوس یي ووایه.

مسکان وویل: سمده ته اوس چیري یي؟

زید وویل: دفتر کي یم.

مسکان وویل: د دفتر څخه راووځه په پښو را روان سه موټر مه در سره راوله.

زید د دفتر څخه دباندي سړک ته ووتئ مسکان ته یي وویل: ښه دا دی را ووتم.

مسکان وویل: اوس د دفتر پر چپه خوا روان سه ځان هغه لویي څلور لارې ته ورسوه.

زید همداسي وکړه او ځان یي څلور لارې ته ورسوئ بیا یي مسکان ته په اوږدو ساو اخیستو وویل: ښه دا دی دلته هم را ورسیدم.

مسکان زید د لیري څخه څارئ بیا یي ورته وویل: بانک در معلومیږي؟

زید وویل: هو هغه خو پر دا دوهم سړک دی.

مسکان وویل: اوس هلته ولاړ سه.

تر څو شیبو وروسته زید هلته ځان ورسوئ بیا یي مسکان ته وویل: دا دی دلته هم را ورسیدم اوس وایه څه وکم؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مســـــکان وویل: د بانک پر مخامخ پارک دی د پارک مخته ځان ورسوه!

زید همداســــي وکړه او د پارک مخته ولاړی بیا یي مســــکان ته وویل: ښه اوس څه وکم.

مسکان ورته وویل: د پارک په بغل کي دروازې ته نږدې دا دوه کوچنیان هلک او انجلۍ ویني؟

زید شــــاوخوا وکتل دوه کوچنیان یي ولیدل چي د بوټو رنګولو برس او رنګ یي ایښــــي دي مخته بیا یي مســـکان ته وویل: دا د بوټو رنګ چي کوي دا کوچنیان یادوې؟

مسکان وویل: هو دا یادوم دوی ته ورسه.

کله چي زید هغو کوچنیانو ته ځان ورسوئ نو هغو کوچنیانو چي زید ولیدئ نو کوچنۍ انجلۍ زید ته وویل: ماما بوټونه رنګوې؟

زید وویل: یا لورکۍ.

زید مسکان ته وویل: را ورسیدم ورته.

مسکان وویل: ته د هغه کوچنۍ انجلۍ تندی وګوره!

زید چي کله د انجلۍ تندی وکتئ نو د هغي ســــخته تبه وه، زید وویل: اوه ددې خو سخته تبه ده دا باید روغتون ته ورسول سي.

زید د مســــکان څخه تلیفون بند کړ او کوچنۍ انجلۍ ته یي وویل: راځه لورې ته مریضه یي ډاکتر ته به دي بوځم.

وروســــته زید دواړه ولاړ کړه او روانول یي چي انجلۍ خپل د بوټو برس او رنګ ته اشــــاره وکړه وېویل: ماما زما شـــیان پاته سول.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زید چي ورته وکتل بیا یي وویل: پریږده یي لورکۍ زه یي بیا پیسي درکوم.

وروسته زید هغه کوچنۍ انجلۍ او ورور یي روغتون ته ورسول او هلته یي ډاکټر ته ور ښـــکاره کړه، ډاکټر ورته وویل: د ډیره یخه او سټړیا څخه داسي سویده نور کمه د تشویش وړ خبره نه ده زه به دوا او یو څو پیچکارۍ ورکم ان شاءالله د هغه سره به ښه سي.

زید وویل: سمده ډاکټر صاحب.

بیا ډاکټر دوا ورته را وغوښـــتل او زید ته یي وویل: نرس به دا پیچکارۍ دلي ورته ولګوي تاسو یو څو شیبي انتظار وکړی.

زید وویل: سـمده ډاکټر صـاحب کمه خبره نه ده او دا ورور یي هم در سره وګوره خدای نکړه کمه مریضي ونلري.

زید دباندي ووتۍ او مســکان ته یي زنګ ور ووهلۍ، کله چي مسکان تلیفون اوکي کړ تر روغبړ وروسته زید وویل: مسکان وبخښه تلیفون مي درباندي بند کړ د هغه کوچنۍ انجلۍ سخته تبه وه ډاکټر ته مي راوستل.

مســـکان وویل: ته پوهیږي دا څوک دي او دي حالت ته د چا د لاسه راوستل سویدي؟

زید حیران وویل: یا نه پوهیږم.

مسکان وویل: دا د هغه فروفیسر اولادونه دي چي تا یي پلار په ټول پوهنتون کي وشرموئ او د هغه د کوچنۍ ناپوهۍ او غلطۍ څخه دي ډنډوره جوړه کړه پوهیږي د فروفیسر د کورنۍ او ددي کوچنیو اولادو د دي بد حالت مسؤله یي څوک دی؟ همدا ته یي.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زید په حیرانتیا وویل: پوهیږم چي ما غلطي وکړه خو د دوی ددي بد حالت لامل څنګه زه یم؟

مسکان وویل: ستا د هغه غلطۍ په سبب چي فروفیسر یي د شرم په اور کي سوځوئ هغه تر ډیره وخته ونسوای زغملای نو مجبوره سو ځان وژنه یي وکړه.

زید په دي سره ډیر حیران سو او بدن یي په ریږدیدو سو بیا یي وویل: څه؟

مسکان وویل: هو هغه ځان وژنه وکړه.

زید خپل حواس د لاسه ورکړه پر مځکه کښینستئ تر سترګو یي اوښکي رواني سوي وېویل: دا ما څه وکړه یا خدایه!

زید تر ډیره ژړل بیا یي وویل: زه نه وم خبر چي زما د مسخرو او ټوکو څخه به دومره ستر تاوان رامنځته سي.

مسکان په غوسه وویل: ټوکي؟ دي ته ته ټوکي وایي؟ د یو چا د احساساتو او عزت سره لوبو ته ته ټوکي وایي؟

د زید تر سترګو لا اوښکي رواني وې چي بیا مسکان ورته وویل: اوس پوه سوې چي ته څومره بد او عیاش طبعیته انسان یي د خپلي خوشحالۍ لپاره د هر چا په ژوند لوبي کولای سې داسي انسان د مینې نه بلکې د نفرط وړ دی دا زما پلان وو چي تاته ستا ځان در معرفي کړم او زه پخپل پلان کي کامیابه سوم نور بنه وخت درته غواړم.

مسکان تلیفون بند کړ، زید چي تر سترګو یي اوښکي بهیدلې تلیفون یي د غوږ څخه په ډیرې مایوسۍ لیري کړ او تر څو شپېو پوري هلته ناسته وو او ژړل یي وروسته نرس راغلئ او ورته



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وېويل: وبخښئ صاحبه ستاسو مريض ته مو پيچكارئ ولګول اوس يي بيولائ سئ.

زيد د سترګو څخه اوښكي پاكي كړي وروسته ور ولاړ سو او د فروفيسر كوچنيان يي كور ته روان كړل، عايشي مسكان ته وويل: مسكان! ته يواري د زيد صفت كوي بيا يي غيبت كوي اوس چي هغه سم سو نو تا بيا دومره سختي خبري ور سره وكړي نه پوهيږم چي دي كي ته كم مقصد لري؟

مسكان اوږده ساه واخيستل بيا يي په خوابدتيا وويل: عايشي زه پوهيږم هغه سم سويدئ او په راتلونكي كي به هم سم وي خو دا هر څه ما د هغه لپاره وكړل دا په بد انداز خبري هم ما د هغه په خاطر وكړي چي د هغه زما څخه نفرط وسي او ما هيره كړي.

عايشي وويل: فكر نكوم مسكان چي هغه دي تا هيره كړي.

مسكان وويل: زه د همدا نن او د همدي اوس څخه دا سيمكارد بندوم بيا يي تليفون ته نه اچوم د هغه به يو څو ورځي پياد يم وروسته يي حتماً هيريږم......

د زيد عمليات لا هم شروع وه د عمليات د اطاق مخته ټول ورته په تمه وه ټولو خپل حواس د لاسه وركړي وه، مسكان خپل سر ديواله ته لګولئ وو او په فكرو كي ډوبه وه.

....زيد په رخشه كي د فروفيسر كوچنيان كښينول او د هغوی د كور پر طرف روان سول چي تر څو شيبو تګ وروسته د فروفيسر كور راورسيدئ، زيد كوچنيان د رخشي څخه راكښته كړه او كور ته يي ننايستل، كله چي كوچنيان كور ته ننوتل نو مور يي ډيره خوشحاله سوه د هغو په ليدو د ځايه را ولاړه سوه



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هغوی يي په غيږ کي ونيول او د لور په لاس کي په کينولـه ليدو ډيره وارخطاء ســوه، زيد هغې ته وويل: مه وارخطاء کيږه خالـه ددې تبـه وه ما ډاکټر تـه بوتله د وارخطايۍ کمه خبره نه ده دا اوس ښه ده.

د فروفيسر ميرمنې وويل: الله دي خير درکي زويه نن يي څوومه وه چي مريضه وه خو زما سره دومره څه نه وه چي ډاکټر ته يي بوځم د کور ســامانونه مو هم د ډوډۍ په رانيولو کي ټول خرڅ کړل اوس هغه هم نه دي راپاته.

زيد د فروفيسر د ميرمنې د خبرو په اوريدو سخت پريشـانه سو غاښـونه يي د پريشـانيه سره وجنګول او د درده يي سترګې پټې کړې تر څو شېبو وروسته زيد خپل ښټوه راويستل او ټولې پيسې يي د فروفيســـر ميرمنې تـه ورکړې ورتـه وېويل: خاله دا واخله اوس ګزاره په وکه زه بيا وروسته راځم.

د فروفيســـر ميرمنې د زيد څخه مننه وکړه او ډيرې دعاوې يي ورته وکړې، زيد چي د فروفيسر د کور څخه راووتـۍ تر سترګو يي اوښـــکې روانې وې. زيد چي کله کور ته ورســيدۍ تر حمام وروسـته پريشـانه پر کټ کښـينسـتۍ تليفون يي راواخيسـتۍ او د مســکان نمبر يي راوســتۍ خو کله چي يي زنګ ور ووهلۍ نو د هغې تليفون بند وو، زيد ټوله شـــپه خوب ونکړ د مســـکان او د فروفيسر د کورنۍ په فکر کي وو، کله چي سـهار سو تر ناشتې وروســته زيد دفتر ته روان ســو، په دفتر کي هم زيد مســکان ته تليفون کوۍ خو د هغې تليفون هيڅ کار نکوۍ، زيد ډير پريشـــانه وو کله چي کار کونکي راغله نو زيد به يي ډير پريشانه ليدۍ تر څو شېبو وروسته مسکان او عايشه هم راغلې، د مسکان زړه وو



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي لومړئ زيد ته وګوري حالت يي معلوم کړي خو د عايشي او نورو کارکونکو پام يي ځانته نه را اړوئ، کله چي دوی پر خپل چوکۍ کښينستي نو د عايشي نظر پر زيد ولګيدئ نو مسکان يي پلاس وښوورول د زيد خواته يي اشاره وکړه بيا يي وويل: مسکان! هلته وګوره.

مسکان چي کله د زيد خواته وکتل نو زيد ډير پريشانه وو، مسکان تر څو شيبو پوري په خواشينۍ زيد ته کتل وروسته يي مخ ځني واړوئ.

په دفتر کي غونډه جوړه سوه د زيد پلار ټول کارکونکي رابللي وه خو مسکان څه ناوخته دفتر ته راله، کله چي مسکان د غونډو تالار ته راننوتل نو د زيد پلار ورته وويل: مسکان لوري زيد خو در سره خبر که چي راسي!

مسکان وويل: سمده صاحبه.

مسکان چي کله د زيد دفتر ته ورغله نو وېليدل چي زيد په دفتر کي نسته کله چي مخته د زيد ميز ته ور نږدي سوه نو د زيد تليفون يي وليدئ، مسکان شاوخوا وکتل بيا يي ژر د زيد تليفون را واخيستئ او د نمبرو ليست يي وکتئ، کله چي يي وکتل نو لومړئ ددې نمبر وو او تر ۳۰۰ پوري زنګونه يي نمبر ته چي د زيد سره يي خبري پر کولي ور وهلي وه، مسکان په دي سره ډيره پريشانه سوه بيا يي تليفون کښيښوئ غوښتل يي چي ووځي خو په دي وخت کي يي په تشناب کي د اوبو د څاڅکو ږغ واوريدئ، مسکان چي کله ور نږدي سوه غوږ يي ورته ونيوئ نو د زيد ژړا يي تر غوږ سوه چي په تشناب کي يي ژړل، په دي سره مسکان نوره هم پريشانه سوه او د زيد ژړا ډير تاثير باندي



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړ او تر سترګو يي اوښکي رواني سوې، تر څو شېبو وروسته يي فکر وکړ چي زيد د ژړا څخه څنګه منعه کړې نو خپل سترګې يي د اوښکو څخه پاکي کړې بيا يي د تشناب دروازه ور وټکول وېويل: صاحبه مشر صاحب مو غواړي.

د مسکان په ږغ سره د زيد ژړا ودريدل خو ږغ يي ونه پيژندئ چي د چا دی بيا يي تر څو شېبو وروسته ورته وويل: سمده درځم.

د مسکان زړه څه ارام سو چي ځه دا دی د زيد ژړا خو مي ودرول، وروسته د دفتره ووتل او د غونډو تالار ته ننوتل د زيد پلار ته يي وويل: ورته ومي ويل راځي.

د زيد پلار وويل: صحي دی لورې مننه.

د زيد د پلار د مسکان سترګو ته پام سو چي سرې وې فکر يي کوئ چي مسکان ژړلې دي چي وروسته يي پام د زيد په راتلو واوښتئ، زيد چي کله پر چوکۍ کښينستئ نو غونډه شروع سوه د زيد پلار وويل: نن زموږ و ستاسو موضوع دا ده چي څه وخت کيږي زموږ اجناسو په بازار کي ځان اچولئ دی د نورو کمپنيو د اجناسو په مقابل کي ستاسو نظرونه څه دي چي بايد څه وکړو چي موږ بيرته خپل اجناسو ته لوی بازار پيدا کړو؟

د زيد د پلار کاروباري شريکانو او کارکونکو ټولو خپل نظرونه وويل خو زيد او مسکان څه نه وويل په اخيره کي د زيد پلار وويل: زيده تا خپل نظر نه ووايه ته هم خپل نظر ووايه.

زيد تر څو شېبو چپ وو وروسته چي کله ولاړ سو نو وېويل: تاسو ټول څني په کاروبار کي تر ما مشران ياست او څني په



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمر کي ســتاســو ټولو نظرونه ماته د منلو وړ دي او خوښ مي سول خو يوه خبره به زه وکم الله دي وکړي چي ستاسو خوا بده نسي او خپه نسئ تاسو چي کم نظرونه وويل دا اصل کي پخوانې نظرونه وه د وخت سره سم بايد نظر وړاندي کړل سي.

د زيد د پلار شــريک وويل: هاهاهاها زويه موږ خو زاړه خلک يو نو ځکه مو نظرونه هم زاړه دي تاسو خو ځوانان ياست تاسو نوې نظرونه راکړئ موږ به يي عملي کړو.

زيد وويل: زه نظر په يوه شرط درکوم او زه د خپل نظر ضمانت هم درته کوم چي کاميابيږي به د الله په مهربانۍ.

د زيد د پلار شريک وويل: څنګه شرط زويه؟

زيد وويل: زما شــرط دا دی که زما دا نظر او پلان کامياب ســو نو په ګټه کي به يو فيصد زما يي.

د زيد پلار حيران سو بيا يي وويل: زيده!؟

د زيد پلار څه ويل خو شــريک يي د خبرو څخه منعه کړ بيا يي زيد ته وويل: زما قبول دی دا شــرط که يي ســتا پلار او دا نور شريکان ومني.

ټولو وويل چي زموږ هم قبول دی د زيد پلار وويل: ســمده زما هم قبول دی خو زيده دا څنګه شــرط دی زويه ته دا فيصــدۍ ته څه ضرورت لرې؟

زيد وويل: بابا ټول خبر دي چي زه څه وخت مخکي ســم نه وم زما د لاسه چي چاته څه تاوانونه او غمونه رسيدلي دي بيرته خو هغه نســم راکړځولئ خو لږ تر لږ څه ناڅه يي دوا کولای ســم غواړم په خپل لاس ګټل سوو پيسو يي ستونزې ور حل کم.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زيد په دي خبرو سره د مسكان په زړه كي د زيد لپاره نور هم ځاى ډير سـو، بيا د زيد پلار وويل: سـمده زويه چي ځنګه دي خوښه يي خو اوس دي ژر نظر ووايه،

زيد وويل: سمده بابا.

وروسته زيد د خپله ځايه ولاړ سو د سټيج ومخته ولاړئ بيا يي وويل: زياتره كمپنۍ زموږ د كمپنۍ په شمول ځكه تر پښو لويدلي دي او لوېږي چي هغوئ د نورو خاريجو تجارتي سـياسـتو تر ښـكار لاندي راسـي او دوى د هغو سـره كه په عامه اصـطلاح ووايم سـيالي نسـي كولاى پوهيږئ هغوئ كم سـياسـت چلوي؟ زموږ اجناس كه څه هم مواد يي اصـلي وي كم جعلي مواد نه يي پكښـي اسـتعمال سـوي خو بيا هم د دوى د جعلي اجناسـو سـره سـيالي نسـي كولاى خبري را لنډوم كه موږ غواړو بيرته خپلو اجناسو ته لوى بازار پيدا كړو نو موږ بايد د خپلو اجناسو نوم او شـكل ور بدل كړو د خاريجي كمپنيو اجناس چي كله نوم وبايلي نو هغوى هغه شـئ بيرته په بل نوم او شـكل جوړ كړي او بازار ورتـه پيدا كړي خو موږ چي كم څـه بـازار تـه وړانـدي كوو هغـه څه دي چي كلونه وړاندي خلكو خوښول د خلكو تقاضاوي بدلون كوي خلک نوي نوي شـيان خوښـوي نو موږ به د خپلو اجناسـو شـكل ور بدل كړو بيابه يي بازار ته وړاندي كړو همداغه جنس به وي لكه څنګه چي مخكي وو خو شـكل او څه تغير به پكښـي راولو او دا كار هم زه پر غاړه اخلم ستاسو اجازه پكار ده.

د زيد تر خبرو وروسـته د زيد د پلار شـريكانو د زيد پر وړتيا چكچكي وكړې په دي سره نورو كاركونكو هم چكچكي شروع كړې بيا د زيد د پلار شـريک وويل: ستا نظر موږ ته د منلو وړ



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی زموږ درته اجازه ده ته په خپل کار پیل کولای سـې موږ په تـا بـاور لرو موږ چي تر ننـه پـه ګټه کي روان یو سـتا د پلار د برکتـه تـه هم دده زوی یي پـه تـا هم موږ بـاور لرو کـامیابي درتـه غواړو.

زید د هغو څخه مننه وکړه او پر خپل ځای کښینستئ، د زید پلار مسـکان ته وویل: مسـکان لوري تا څه نه وویل ته خو هم ددي کمپنۍ یو برخـه یي تـا خپل نظر ولي نـه ووایـه ایـا تـه د زید ددي نظر سره موافقه یي؟

مسکان وویل: بلي هو صـاحبه ډیر ښایسته او....،

کله چي مسـکان په خبرو شـروع وکړه او زید یي اواز واوریدئ نو پـه حیرانتیـا یي د هغي خواتـه وکتل او د ځان سـره یي فکر کوئ چي د مسـکان ږغ حیاء تـه سـویدئ، د مسـکان هم ورتـه پام سو نو ځکه یي خپل اواز تـه څه تغیر ورکړ او وېویل: او پر ځای نظر دی چي تاسـو ور سـره موافق یاسـت زه هم ور سـره موافقه یم.

وروسـتـه مسـکان خبري بس کړي او غونډه خلاصـه سـول ټول دباندي ووتل، زید پر خپل پلان کار شروع کړ د کمپنۍ د اجناسو شـکل یي ور واړوئ او په نورو شـکلو او تغیراتو یي بازار تـه وړاندي کړل، زید مسـکان او نور کاریګر به خپله په کمپنۍ کي د تولید پر وخت موجود وه او کاریګرو تـه بـه یي د کار لارښـونـه کول، د زید پلان او نظر کامیابه سو د دوی د کمپنۍ نوي اجناسو پـه بـازار کي ډیر نوم او شـهرت پیدا کړ او ډیره ګټه یي وکړه، کله چي د ګټي د پیسـو د ویش ورځ راغله نو زید پلار او د پلار شریکان یي سره یو ځای سول د زید د پلار شریک زید ته پیسي



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړې ورته وېويل: واخله دا دی ستا يو فيصد ګټه او افرين چي په دومره کم عمر دومره استعداد لرې کاش ته مخکي دلته راغلئ وای او زموږ ســـره دي کار کړئ وای موږ به د کمپنۍ په اړه د تشويشاتو خلاص سوي وای څومره بوجونه وه زموږ پر دماغو خو الحمدالله ســتا په راتلو څه کم ســول او باوري يو چي دا نور به هم کميږي.

وروسته د زيد د پلار شريک دباندي ووتئ او مسکان او څو نور کارکونکي دننه دفتر ته ورغله او په کمپيوټر کي مصروفه سول، د زيد پلار زيد ته وويل: افرين زويه تا نن زما نوم را روښــــانه کړ درباندي وياړم.

زيد وويل: بابا ددي افرينو لياقت يو بل څوک لرې.

عايشې مسکان په څنګل کرار ووهل او وېخندل مسکان موسکۍ سوه بيا يي عايشې ته اشاره وکړه چي چپ سه، مسکان د زيد په دا خبره پوه سوه چي زيد ما يادوي، د زيد پلار وويل: څوک؟

زيد وويل: يو څوک ده بابا خو پيژنم يي نه د تليفون له لارې يي زه ســمي لارې ته راوســتلم د ژوند تګلاره يي راوښــول زه يي خپلو غلطيو ته متوجې کړم.

پلار يي وويل: ډير ښـــه! يو ورځ به يي په ما ويني چي زه مننه ځني وکم چي دا زما شوخک يي سمي لارې ته راوستئ.

زيد موسکی سو بيا يي وويل: سمده بابا.

کله چي ماښـام سـو مسـکان پر بام ناسـته وه او فکرونو کي غرقه وه د زيد خبرې ور يـاديـدلي چي ويـل يي: بـابـا ددي افرينو لياقت يو بـل څوک لرې، يو څوک ده بـابـا خو پيژنم يي نـه د تليفون لـه



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاري يي زه سمي لارې ته راوستلم د ژوند تګلاره يي راښول زه يي خپلو غلطيو ته متوجې کړم.

مسکان د زيد په دي خبرو يادېدو موسکی سوه بيا يي د عايشې خبره ور ياده سول چي ورته ويلي يي وه: مسکان! آيا داسې خو به نه يي چي ته هم د هغه سره مينه کوې؟ په دي سره مسکان پريشانه سوه او په فکرو کي ډوبه سوه او خپل خاوند ته چي ددې څخه څه ليري په کمپيوټر اخته وو وکتل بيا مسکان ته دا خبره ورياده سوه چي دې زيد ته ويلي وه: تا تر اوسه زه نه يم ليدلي دا که بدرنګه وم نو بيا؟

زيد وويل: ليونی! مينه د زړه څخه پيل او په زړونو کي کيږي مينه په څيهره پورې اړه نلري ته که هر ډول يي هر څنګه يي زما قبوله يي.

مسکان په همدې فکرو کي وه چي پر چوکی ناسته بيده سوې وه چي تر څو شېبو وروسته يي خاوند ورغلئ ويښورول او ورته وېويل: مسکان؟ مسکان؟

مسکان د خوبه وويل: ها.

خاوند يي وويل: درځه خپل بيسترې ته دي هلته بيده سه!

مسکان ولاړه سوه خاوند يي تر لاس ونيول او بيسترې ته يي بوتله او هلته يي پريستل توس يي پر واچوئ، مسکان خپل خاوند ته څو شېبې کتل بيا يي تر سترګو اوښکي راغلي، خاوند يي حيران سو بيا يي پر تندي لاس ور ونيوئ ورته وېويل: څه خبره ده ولي ژاړې ګراني؟

مسکان په ژړا وويل: هيڅ نه بس داغسي.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاوند يي وويل: خيريت خو به يي كه كمه خبره يي ماته ووايه.

مسكان فكر كوئ چي څه ووايي بيا يي مور ور ياده سول وېويل: هو خيريت دى بس يو څه مي مور وياديدل.

خاوند يي وويل: ليونئ! په همدا كوچنى خبره ژړا درغله؟ خو سبا به دي ور ولمږ.

مسكان وويل: سمده مننه.

خاوند يي وويل: انو اوس ښه خوشحاله بيده سه!

مسكان اوښكې پاكي كړې او خاوند ته يي وويل: سمده ښه شپه درته غواړم ته هم بيده سه.

خاوند يي وويل: سمده ګراني څه كار مي پاته دى كمپيوټر كي چي هغه وكم بيا بيديږم.

وروسته مسكان بيده سول او خاوند يي په كمپيوټر كي مصروفه سو.

څو ورځې وروسته د كاريګرو د معاش مياشت پوره سوې وه زيد خپل پلار ته وويل: بابا د كاريګرو معاش نور زه وركوم تر څو درغلي په كښي ونسي كاريګرو څه وخت مخكي شكايت راته كړئ وو چي د دوى څخه معاش ګرځول كيږي نو ځكه دوى ته معاش نور زه وركوم كه ستا خوښه يي؟

پلار يي وويل: سمده زويه دا خو ډيره ښه خبره ده كمپنئ په همدې كاريګرو چليږي كه دوى نه يي نو كمپنئ به هم نه يي ښه دى چي ددي موضوع څخه دي خبر كړم كه وخت پر تير سوى واى شايد ناوړه پايلي يي درلودلي واى زما خوښه ده واخله دا د تجرئ كيلئ دي هر وخت چي مياشت پوره كيدل وركوه يي ځني.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زید وویل: سمده مننه بابا.

زید چي کله مازیګر او د رخصـــتیدو وخت ســـو ټول کاریګر راوغوښــــتل او پـه تولیدي کمپنۍ کي یي دننه ټولو ته د معاش ورکړې پروسـه شـروع کړه د زید ملګري به د کاریګر نوم وایه زید به معاش ورکوئ، په همدې اطاق کي مسـکان هم موجوده وه هغه حســـابونه یي کمپیوټر ته رســـول چي زید پکښـــي معاش کـاریګرو ته ورکوئ، په اخیر کي زید د خپل جیب څخه پیســـې راوکښلې ملګري ته یي وویل: اقباله دا پیسې واخله د فروفیسر د کوچنیانو وړکتون ته ورســه او دا پیســي یي تحویل کړه د هغو د وړکتون هم میاشـــت پوره ده او دا نوري پیســـې یي میرمنې ته ورکړه او زما سلامونه هم پر وایه.

مســـکان د زید په دې خبره ډیره خوشـــحاله ســـوه چي زید د فروفیسر د کورنۍ سره کمک کوي.

اقبال وویل: سمده او زما جیب خرڅ.

زید ملګري ته پیســـې ورکړې ورته وېویل: واخله یو خو ســـتا دا هره ورځ جیب خرڅ هم زه لیونی کړم.

اقبـال وویل: لیونی یي بیا ولي کړي خو دا دی زه دي هم کارونه درکوم مفتې خو یي نه درڅخه غواړم.

زید موسـکی سو بیا یي وویل: سمده ورسه دا پیسي پر وخت ور ورســـوه د وړکتون مدیر ته وروایه چي بخښـــه کوه ســـهار نه وو فارغه چي تحویل کړې مو وای.

اقبال وویل: سمده.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروســـته اقبال ووتئ او کاریګر هم یو یو وتئ او کورو ته تلل مسکان هم کمپنۍ کي ګرځیدل چي پر یو کوچني برقي ماشین یي سترګي ولګیدې چي کاریګرو چالاند پري ایښــي وو، مســکان کوښــښ وکړ چي هغه بند کړي خو و یي نسـوای کولاۍ، تر څو شپېو وروسته زید ته ورغله او ور ته یي وویل: صاحبه کاریګر دباندي ووتل خو یو ماشـین یي چالاند پري ایښــۍ دی ما کوښــښ وکړ چي بند یي کړم خو نه بندیدۍ تاسو راسۍ ویګورۍ.

زید وویل: پیره دار چیري دی؟

مسـکان وویل: هغه ویل چي کور ته سـودا وړم سـتاسـو د تلو تر وخته بیرته ژر راځم.

زید وویل: افف خدایه دا څه بي عقلان دي ماشین یي چالاند پري ایښۍ دی او دوی تللي دي.

وروسته ور ولاړ سو او د ماشین پر خوا دی او مسکان ورغله، کله چي ماشین ته ور ورسیدل نو زید شاوخوا پر وګرځیدۍ څکه دی هم نـه پوهیدۍ چي دا څنګـه بنـدیږي یوازي پیره دار پوهیدۍ چي ماشینان څنګه بندیږي او چالانده کیږي، زید څو سویچان ور ووهل خو ماشین بیا هم نسو بند، بیا زید مسکان ته وویل: ته هلته ورســه د برق اطاق ته وګوره هلته خو به یي د ســاکټ لین نه یي چي بندیږي.

مسـکان د برق د اطاق پر خوا ور روانه سـول زید په ماشـین کي نور بټنان او سـویچان ور ووهل چي بند یي کړي چي یو دم یي پر یو لڅ لین لاس ولګیدۍ او برق ونیوۍ، پـه اطـاق کي مســـکـان ولیدل چي نور لینونـه نســـتـه یو لین پـه برق کي دی نو هغـه یي وکښـۍ، زید تر لین بندیدو وروسته برق پریښوۍ او بي هوښه پر



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مځکه ولویدئ، برق بند بند کیدئ مســـکان حیرانه ســـول چي دا ولي نو ځکه ژر بیرته زید ته ورغله چي وپلیدل زید پر مځکه پروت دی نو یي ژر ور وځغســـتل او ویښـــورویٔ ورته وپویل: صاحبه صاحبه.

خو زید لا هم بي هوښـــه وو بیا مســـکان وښـــوروئ ورته وپویل: زیده! زیده!،

خو زید بیا هم برغ نکوئ او بي هوښـه وو، مسـکان ډیره وارخطا وه بیا یي په ژړا وویل: زیده! زیده کښینه.

خو زید لا هم بي هوښـه وو، مسـکان ډیر وژړل بیا ولاړه سوه او په تلوار یي اوبه راوړلي او پر زید یي وپاشـلې، په دي سـره زید په هوښ راغلئ او راکښینستئ، مسـکان ډیره خوشـحاله سـوه خو لا یي هم تر سـترګو اوښـکي بهیدلې زید چي هغې ته وکتل نو د هغې د اوښکو په لیدو ډیر حیران سو بیا یي په موسکا وویل: څه خبره ده؟

مسـکان نوره هم په ژړا سول بیا ولاړه سول او د تشنابو پر خوا ولاړه، زید هلته ناســـت وو چي په دي وخت کي پیره دار راغلئ زید ته یي وویل: څه خبره وه صاحبه؟

زید په غوسه ورته وویل: بي عقله ماشین دي داغسي چالاند پري ایښئ وو ته وتلئ وی.

پیره دار وویل: صـــــاحبه زه وختې ددي ځایه ولاړم چي کاریګر اختـه وه زوی مي نوی زیږیدلئ دی هغـه مریض وو دوا او څـه سودا مي کور ته یوړل.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پيره دار د عذر په اوريدو زيد څه نرم سو بيا يي وويل: څه صحي دى ورسه سم يي وګوره چي بند سويدئ كه يا؟

پيره دار وويل: سمده صاحبه.

زيد د تشنابو پر خوا ورغلئ مسكان لا هم هلته په تشناب كي ولاړه وه او ژړل يي زيد تر څو شيبو هلته ورته ولاړ وو بيا يي دروازه ور وټكول او ورته وېويل: اغلي خيريت دى هيڅ خبره نه ده راځه كور ته ناوخته كيږي زه به دي ورسوم.

تر څو شيبو وروسته زيد دفتر ته ولاړئ خپل شيان يي ټولول د تلو تياريئ يي نيوئ، مسكان ارامه سول مخ او لاسونه يي پريولل او بيا دباندي راووتل، زيد هم خپل شيان او د مسكان دستكول راواخيستل او دباندي راووتئ او دستكول يي مسكان ته وركړ او دواړه دباندي ووتل، دباندي زيد مسكان ته وويل: ته دلي ودريږه زه به موټر د پاركينګ څخه راوباسم.

مسكان په ژړغوني ږغ ورته وويل: ته تكليف مكوه زه تلاى سم كورته.

زيد وويل: يا هيڅ تكليف ندئ زه هم هغې خواته ځم.

مسكان وويل: سمده.

كله چي زيد موټر راويستئ نو مسكان موټر كي ور سره كښينستل او د مسكان د كور پر طرف روان سول، مسكان ډيره پريشانه وه د زيد خواته يي هيڅ نه كتل زيد به كله كله هغې ته وكتل چي د هغې پريشاني به يي وليدل نو د هغې پر بيرې به موسكى سو زيد به د هغې څخه د لارې پوښتنه كول چي كمي خواته ولاړ سم مسكان به په كرار او زهيره لهجه اشاره ورته



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کول چي داسي درځه، تر څو شپبو وروسته د مسکان کور راورسيدئ مسکان زيد ته وويل: بس همدلته يي ودروه.

زيد موټر ودروئ مسکان د کښته کيدو پر وخت زيد ته وويل: مننه.

زيد پوه سو چي مسکان بيريدلې ده نو ځکه يي نور څه نه وويل صرف يي کوچنی مننه وکړه زيد ورته وويل: د منني وړ نده اغلې.

مسکان کښته سول او کور ته روانه سول کله چي زيد روان سو نو مسکان د شا لخوا ورپسي څو شيبې کتل چي زيد يي د سترګو پناه سو بيا کورته ننوتل، کله چي ماښام سو زيد پر بام ناست وو چاى يي څيښلې تر څنګ يي په کمپيوټر هم مصروفه وو چي زنګ ورته راغلئ، زيد د مصروفتيا په خاطر تر څو شپبو وروسته موبايل راپورته کړ چي ورته وېکتل نو د مسکان پخوانی نمبر وو چي دده سره يي خبرې پر کولې، زيد ژر کمپيوټر پر ميز کښيښوئ او تليفون يي اوکې کړ او په تلوار يي ورته وويل: سلام حياء!

خو د مسکان لخوا جواب نه ورکول کيدئ زيد بيا ورته وويل: حياء زما اواز اورې؟

مسکان ژړل او د زيد خبرو ته يي غوږ نيولئ وو، زيد د هغې ژړا واوريدل بيا يي وويل: حياء ته ژاړې؟ خيريت خو به يي؟ هې ليونی؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسـکان تر څو شیبو وروسته په ژړا ورته وویل: ستاسو د کمپنۍ پیره دار دبـاندي نورو خلکو تـه اوس ویل چي ته برق نیولۍ وې ما واوریدل.

زید موسـکی سـو بیا یي وویل: یا هغه دومره د پریشـانۍ خبره نه وه.

مسـکان ورته وویل: ولي هغه د بیطرۍ برق وو چي وایي دومره د پریشانۍ خبره نه وه پر ځان پام ولي نکوې؟

زید بیا پـه موســـکا وویل: نو خو ته نه وې چي پام دي راباندي کړی وای.

مسکان وویل: بس سمده زما سره نور خبرې مکوه بې عقله.

زید وویـل: پوهیږې حیـاء چي دا څو ورځې پر مـا ځنګه تیرې سوې چي تا تلیفون بند کړئ وو سم مرګ وو راباندي.

مسکان د نازه وویل: ښه وسو دا مي سزا درکول چي سم سې.

زید وویل: حیاء مړ مي که خو بیا داســـي ســزا مه راکوه چي په یوه ښـار کي یو خو لیدلای در سره نسم شتون دي احسـاسوم خو لمسولای دي نسم فکر کوم ته ماته ډیره نږدې یي خو لیدلائ دي نسـم ولي داســي احسـاس کوم لکه د ډیره پخوا چي مي در سـره خپلوي وه ولي داسي احساس کوم چي زما ژوند په تا پوري تړلئ دی........

د زید عملیات خلاص ســول ډاکټر نرســانو ته وویل: شــیان نور سره ټول کړئ،،

نرس وویل: ولي ډاکټر صـــاحب دده عملیات خو لا تر اوســـه نه دي بشپړ سوي؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر وویل: د زهرو یي ډېر وخت کیږي چي خوړلي یي دي ټول بدن ته جزب سویدي دده ژوندی پاته کیدل ناممکین دي نو ښه به دا وي چي پاته څو ساعتونه د کورنۍ سره تیر کړي.

وروسته نرسانو شیان ټول کړل ډاکټر دباندي ور ووتئ، د ډاکټر په لیدو ټول د هغه مختته ورغله د زید پلار وویل: څنګه سو ډاکټر صاحب د زید زوی عملیات مي؟

ډاکټر ورته وویل: سلطانه د اوس لپاره خو زید ښه دی خو زه ډیره بخښنه غواړم چي دا وایم چي ستاسو زوی به یوازي د یو څو ساعتو لپاره ژوندی وي.

ددي په اوریدو ټول ډېر حیران او حواس یي د لاسه ورکړل او ټول په ژړا سول، د مسکان بدن په ریږدیدو سو هغې خو د اوله خپل حواس د لاسه ورکړي وه او ژړا یي د ډیره غمه وچه سوې وه، د زید پلار وویل: دا څه وایي ډاکټر صاحب زه نغواړم زید زوی مي د لاسه ورکړم ته همدا اوس تر ټولو تکړه ډاکټر راوغواړه چي هر چیري وي او هر څومره مصرف کوي.

ډاکټر وویل: سلطانه زه ډیره بخښنه غواړم که د ټولي نړۍ ډاکټران راوغواړي هم فایده نکوې چي ټول مال و دولت دي مصرف کې هم کمه پایله نه ورکوي دده د زهرو ډیر وخت کیږي چي خوړلي یي وه ټول بدن ته جزب سویدي ده فکر کوم چي د یو څه یا د یو چا لپاره یي ځان تر ډیره حده کنټرول کړی وو که نه ډیر وخت مخکي به لویدلئ وای.

د زید پلار پر سر لاسونه ونیول بیا یي وویل: یا خدایه دا څه اورم.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا ډاکټر وویل: سلطانه تاسو حوصله وکړئ زید څو شېبو وروسته په هوښ راځي تاسو ور سره لیدلئ سئ د تقدیر فیصلې نه اوړي.

تر څو شېبو وروسته زید په هوښ راغلئ هوښ ته په راتلو سره سم يي د مسکان مسکان نوم یادوئ، نرسان هغه ته غوږ سول بیا یو نرس دباندي ور ووتئ وېویل: په تاسو کي مسکان څوک ده؟

ټولو مسکان ته وکتل نرس وویل: مریض ستاسو نوم یادوي نو ښه به دا وي چي تاسو اول ور سره ووینئ.

مسکان د عملیات اطاق ته ورغله او د زید تر څنګ ودریدل، زید چي کله سترګي خلاصي کړې نو مسکان يي ولیدل د هغي په لیدو موسکی سو مسکان په اوښکو ډکو سترګو وویل: ولي دي داسي وکړه؟

زید په سخت اواز وویل: مسسسکان ما خو درته ویلي وه چي زما ژوند په تا پوري تړلئ دی.

مسکان تر څو شېبو وروسته وویل: تا زما سره کړې وعده ماته کړل زه به دي هیڅکله ونه بخښم.

زید وویل: مسکان زه تا نه ملامتوم ځکه ما هغه څه غوښتل چي را رسیدل يي ناممکینه وه او تا په اړیکو پاللو کي کمزوره هم نه بولم ځکه تا د نه پاللو سبب درلودئ خو ما ته هغه دنیا خوند نه راکوي چي ته پکښي د بل چا يي زه به په هغه دنیا کي درته انتظار کوم.

مسکان د زید تر څنګ کښینستل د هغه لاس يي په خپل لاس کي ونیوئ او مچ(ښکُل) يي کړ بیا په ژړا د اطاقه او بیا د روغتونه



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووتل او د کور پر طرف روانه سول، کله چي مسکان ولاړه نو د زید پلار او ورونه اطاق ته ورغله........،

بیا زید وویل: حیاء زه اوس سم سوی یم په الله باور وکړه.

مسکان وویل: پوهیږم.

زید وویل: نو بیا ولي نه راسره ویني.

مسکان وویل: د تقدیر فیصلې دي که نه ما به یوه دقیقه هم ستا څخه لیري نه وای تیره کړې.

زید وویل: زه دي په دي نه مجبوروم حیاء شاید ته ددې لپاره یو سبب ولرې خو زه به رب ته دعا کوم چي موږ ژر سره یو ځای کړي.......،

د زید د خبرو په جریان کي مسکان د ځان سره فکر کي وویل: ناممکینه ده زیده زه به بیا دعا کوم چي رب مو په هغه دنیا کي ژر تر ژره سره یو ځای کړي په دي دنیا کي به مو نصیب سره ونه سي.

تر څه خبرو وروسته مسکان وویل: ډاکټر ته ولاړې؟

زید وویل: یا هلته کمپنۍ کي دې وخت کي یو همکاره هم وه هغې ژر ساکیټ وکښنۍ د برقه څخه نو ځکه ډیر وخت یي نه یم نیولۍ.

مسکان وویل: بیا هم ډاکټر ته ځان ور ښکاره کړه خدای نکړه وروسته بیا تاوان درته ونکړي شاید اوس یي زخم پټ وي.

زید وویل: سمده سبا ته به ان شاءالله ورسم.

مسکان وویل: سمده چي بیا دي هیر نسې.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا مسـکان وویل: زیده نور بیده سـه ناوخته دی سـتړی سـوی به یي.

زید وویل: سمده خو خبره واوره!

مسکان وویل: ښه وه وایه.

زید وویل: مینه در سره لرم.

مسکان موسکی سوه بیا یي وویل: بیده سه لیونیه.

زید په خندا وویل: سمده ښه شپه.

مسکان هم وویل: ښه شپه.

مسـکان چي کله خپل بیستري ته ولاړه نو د زید او خاوند په فکر کي سـول تر ډیره بیده نسـوه خو کله چي سـهار کیدو ته سـاعت وخت پاته وو بیده سـوي وه خو د سـهار د اذانو سـره بیرته راکښـینسـتل، چي دباندي یي وکتل نو خاوند یي پر لمانځه ولاړ وو او په ډیري عجزی سره یي لمونځ کوئ، مسکان تر څو شیبو هغه ته کتل وروسته دا هم ولاړه اودس یي وکړ او د لمانځه لپاره یي تیارئ ونیوئ، کله چي لمر راوختئ تر ناشـتي وروسـته مسـکان دفتر ته ولاړه چي وپکتل نو زید ډیر خوشـحاله وو دا هم موسـکی سـوه بیا یي عایشـي ته سـلام ووایه او تر څنګ یي کښینستل عایشي ورته وویل: ښاغلی خو خورا نن خوشحاله دی چي څه پیښه ده؟

مسکان وویل: ښاغلی دي خدای داغسي خوشحاله لري پروند یي سخت وهم او مرګ راباندي تیر کړی.

عایشي وویل: ولي؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسـكان وويل: د برق لين ته يي لاس ور وړئ وو هغه نيولئ وو زه چي بـانـدي راغلم نو بي هوښـــــه پروت وو مـا فكر وكړ چي خداى نكړه مړ سوى دى سخت مي وژړل خو چي كله مي اوبه باندي وپاشلې راكښينستئ او زه يي د ژړا په حالت كي وليدلم.

عايشې وويل: نو درباندي پوه سوئ خو به نه يي چي تا ور سره په تليفون كي خبرې كولې؟

مســـكان وويل: يا نه دى پوه ســـوئ ده فكر كوئ چي زه بس داغسي د ښځولۍ په خاطر وبيريدم نو ځكه پوه نسو.

بيا مسكان وويل: عايشې هغه اوس ډير سم سويدئ تر پخوا.

عايشې وويل: هغه څنګه؟

مســكان وويل: پروند چي دى بي هوښـــه ســوئ وو نو زه ډيره نږدي وم ورتـه خو ده چي وليـدلم ژر يي مخ راڅخـه واړوئ او زمـا د غيږ څخـه يي ســـر پورتـه كړ وروســـته يي تر كوره هم ورســـولم بيـا يي هم پر ټولـه لار هيڅ ونـه ويل او نه يي هم زما خواته كتلې دي.

عايشې وويل: هو ما ته هم څه ناڅه معلوميږي چي سم سويدئ.

عايشې او مسكان خبرې سره كولې چي د زيد د خپله دفتر څخه په مسكان كي فكر سو بيا يي د مسكان د تيري ورځې ژړا ور پياد سول چي دده د بي هوښـۍ پر وخت يي ژړل وروسته د تير ماښام د حياء ژړا ور پياد سول بيا د خدمتګار خبره ور پياد سول چي كله په اول وار مســـكان د زيد اطاق ته په غلطۍ ورغلې وه چي خدمتګار ورته وويل: د مشـر صـاحب د دفتر څخه يو انجلۍ راغلې وه د خالد صاحب پوښتنه يي كول ما د خالد صاحب اطاق



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ور ښــــولۍ وو او دا دلتـه پـه غلطۍ کي راغلي وه، زيد پر دي شـکي سو چي داسـي نه مسکان حياء وي، کله چي تفريح سوه نو مســکان دباندي د کمپنۍ پارک ته ووتل زيد په هغې پســي وو او حيـاء تـه يي زنـګ ور وهـۍ خو د هغې تليفون بند وو، مســــکان غوښتل چي زيد ته زنګ ووهي خو عايشـې ورته وويل: مسـکان ودريږه!

مسکان وويل: څه خبره ده؟

عايشې وويل: هلته وګوره زيد شايد په موږ پسي ګوري.

مســکان تليفون دسـتکول ته واچوۍ او د عايشــې سـره په باندار مصـروفه سـول. زيد څو شـېبې شـاوخوا وکتل وروسـته ولاړۍ د دفتر خواته عايشې او مسکان ورته کتل چي دی ولاړۍ، وروسته مســــکان تليفون راوکښــــۍ او زنـګ يي ور ووهلۍ کله چي زيد اوکې کړ نو تر روغبړ وروسته مسکان ورته وويل: د ږغه څخه دي داسي معلوميږي لکه په ما پسي چي ګرځيدي که څنګه زيده؟

زيد په موسـکا وويل: هو زه دلته زموږ پر يوې همکارې شـکمن سوم ما فکر کوۍ چي هغه به ته يي.

مسکان عايشې ته اشاره وکړه چي زيد رښتيا هم په موږ پسې وو بيا يي زيد ته وويل: ښه ته بيا په انجونو پسي يي؟

زيد وويل: يا په پســـي نه يم مازي مي کتل چي هغه خو به ته نه يي.

بيـا زيد وويل: حيـاء بـاور وکـه اوس مي بيلـه تا په زړه کي بل د هيچا لپاره ځای نسته او نه به هم پيدا سي.

مسکان اوږده ساه واخيسته بيا يي وويل: زيده زه ستا وړ نه يم.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زید وویل: حیاء داسي مه وایه که ته ووایي زه ستا سره په هغه ډول ژوند کوم هر رکم چي ستا خوښ یي په هم هغه ډول.

مسکان وویل: زیده زه کمزوري لرم.

زید وویل: څنګه کمزوري؟

مســـکان وویل: خیر اوس یي پریږده ته دا راته ووایه چي ډاکټر ته ولاړې که یا؟

زید وویل: حیاء ته پوهیږې چي ته نه راســـره ویني نو پر ما څه تیریږي؟

مسکان وویل: پوهیږم زیده خو ته باید ما درک کړې.

زید وویل: ســـمده زه به وګورم چي ته څنګه په ما ځان نه وینې که مي هر څه په ځان وکړه بیابه مي نه ملامتوې.

مسکان وویل: زیده لیونی کیږه مه.

زید وویل: ته مي دې ته مجبوره کوې چي داسي وکم.

مســـکان وویل: که دي څه وکړه زیده قســـم درته کوم چي بیا به هیڅکله در سره ونه وینم.

زید تلیفون بند کړ څه یي ونه ویل مســـکان ډیره پریشـــانه ســـوه عایشې وویل: څه پیښه ده؟

مســـکان وویل: زید وایي که دي راســـره ونه لیدل په ځان یو چم کوم.

عایشې وویل: دا تا خطاباسي هیڅ لا نکوي.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسکان وويل: عایشې دا لیونی زه پیژنم ډیر ضدي دی حتماً یو څه کوي افف خدایه نه پوهیږم څه وکم.

مسکان او عایشه بیرته دفتر ته ولاړې مسکان په زید پسې کتل هغه دننه په خپل دفتر کې وو، مسکان به هغه ته د سترګو تر بغلو کتل بیا یې فکر وکړ چې د زید نظر به د ځان څخه واړوم چې زه حیاء نه یم نو ځکه یې تلیفون د دستکول څخه راوکښئ او خپل خاوند ته یې زنګ ور ووهلئ تر روغبړ وروسته یې وویل: زه دفتر ته رالم هلته پر میز زما کمپیوټر پاته سوی وو اوس مې ډیر تېنګ ورته ضرورت سو که ته فارغه یې نو یواري یې دفتر ته راوړه.

خاوند یې وویل: سمده زه یې ان شاءالله په یو څو دقیقو کې در رسوم.

مسکان تلیفون بند کړ زید ته یې وکتل بیا په خپل کار اخته سول تر څو شېبو وروسته یې خاوند زنګ ور ته راووهلئ ورته وېویل: مسکان زه د دفتر مخته ولاړ یم.

مسکان وویل: چوکیدار ته ووایه چې زه د مسکان خاوند یم بیا راسه دننه.

خاوند یې وویل: سمده.

تر څو شېبو وروسته یې خاوند دننه دفتر ته راغلئ او مسکان ته یې کمپیوټر ورکړ، مسکان قصداً خپل خاوند د ځان سره څه مصروفه کړ چې د زید ورته پام سي چې همداسې هم وسوه د زید پام مسکان او خاوند ته ور واوښتئ،زید حیران سو چې دا یې څه دی چې مسکان داسې په مینه ور سره خبرې کوي.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مســـکان د زید خواته وکتل وېلیدل چي زید دا او خاوند ولیدل بیا یي خاوند ته وویل: ښــه ســمده ته ولاړ ســه او د زحمته دي ډېره مننه.

وروســته د مســکان خاوند روان ســو زید چي هغه ســم ولیدئ نو وي پېژندی چي دا هغه سـړی دی چي ده د هوټل مخته موټر دده د موټرسیکل سره ټکر کړئ وو چي زید یي اخلاقو او ښه رویې ته حیران ســوئ وو، کله چي هغه ووتئ مســکان زید ته کتل چي زید چوکیدار ته زنګ ور ووهلئ ورته وېویل: دا سړی څوک وو چي دفتر ته راغلی وو؟

چوکیدار وویل: دا د مسکان اغلي خاوند وو.

زید تلیفون بند کړ او څو شـــېبې حیران پاتـه وو بیا یي پلار ته زنګ ور ووهلئ ورته وېویل: بابا چیري یي؟

پلار یي وویل: در روان یم دفتر ته زویه ولي خیریت خو به یي؟

زید وویل: هو بابا خیریت دی یو څه مي پکار وي.

پلار یي وویل: سمده زویه دا یم در روان یم.

تر څو شــېبو وروســته د زید پلار رالی او د زید ســره یي ولیدل زید ورتـه وویـل: بـابـا پـه کمپنی کي لږ کار دی زه هلته ځم او دا یو څـه لاربنـــوونې دي مـا کـاپي کولو تـه ورکړیدي یو څه کاپي ســویدي لږ پاته دي چي ټول کاپي ســول بیا یي مســکان اغلې ته ورکـه چي کمپنی ته یي راوړي هلته به یي ښـــځینه کاریګرو ته ور وښیي.

پلار یي وویل: سمده زویه.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته زید ووتئ مسکان هم چي کله د زید ورته شا سول نو پسي وېکتل او فکر يي کوی چي زید چيري ولاړئ ډېره اندېښمنه سول بیا یي څه اسناد واخیستل او د زید د پلار دفتر ته ورغله ورته وېویل: صاحبه زید صاحب چیرې ولاړئ دا یو څه اسناد وه باید یو څو مشتریانو ته یي استولې وای.

د زید پلار وویل: هغه کمپنۍ ته ولاړئ لورې او دا پرینټر ته پراته کاغذونه یي غوښتي وه باید چي تاسو یي ور وړئ هلته به ښځینه کاریګرو ته تشریح ورکړئ.

مسکان یو څه خوشحاله سوه چي بیا زید ته نږدې کیږي او پر هغه ځارنه کولای سې چي داسي نه څه وکړي نو وېویل: سمده صاحبه ولي نه.

مسکان هلته ورته انتظار سوه کله چي ټول کاغذونه کاپي سول نو مسکان واخیستل او د کمپنۍ پر خوا روانه سول هلته چي ورسیدل نو وېلیدل چي زید د کمپنۍ په اطاق کي دی، د مسکان زړه هوسا سو بیا دننه ورغله او تر سلام وروسته یي ورته وویل:صاحبه دا کاغذان صاحب ویل چي ده ته یي ورکړه.

زید وویل: هو ورسه د ښځینوو په ځای کي ټولې کاریګرې درته منتظر دي هغو ته یي تشریح کړه اسانه دي لږ تشریح ته ضرورت لري.

مسکان وویل: سمده.

وروسته مسکان د ښځینه کاریګرو ځای ته ورغله او هغو ته یي لارښوني شروع کړې تر څو دقیقو هلته وه وروسته چي معلومات خلاص سول نو مسکان ټولو ته اجازه ورکړه چي



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوري تلای سئ هغوی ټولي ولاړي، په کمپنۍ کي هیڅوک نسوه پاته د مســــکان کاغذان په لاس کي وه د زید د اطاق خواته ور روانه سـوه کله چي اطاق ته ورسـیدل نو وېلیدل چي زید پر میز ســر ایښــی دی چاکو یي بغلته پروت دی او پر میز وینې بهیدلي دي، ددي حالت په لیدو د مســکان بدن رېږد ونیوئ کاغذان یي د لاسـه ولویدل او کرار کرار او په رېږدیدلي پښو د زید خواته ور روانه سوه کله چي هغه ته ور ورسیدل نو د زید سر یي په لاس کي ونیوئ او په رېږدیدلي او وارخطا ږغ یي وویل: ززززیده!

خو کله چي یي زید سره وښورووئ او یقین یي وسو چي زید مړ سویدئ نو پر ځنګنو سوه او چیغې یي کړې او په چیغو کي یي د زید نوم وایه، په دې وخت کي چوکیدار راوځغسـتل غوښـتل یي چي اطاق ته راننوځي چي زید سـر راپورته کړ او هغه ته یي په خندا اشـاره وکړه چي بیرته ولاړ سـه! چوکیدار بیرته ولاړئ زید بیا خپل سـر پر میز کښـیښـوئ او د مسـکان ژړا ته یي غوږ ونیوئ، مسـکان تر څه ژړا وروسـته چپ سـول او بیا یي د ځان سره وویل: زیده! زما په سبب دا هر څه وسول که ما ستا غوښتنه منلې وای نو دا هر څه به نه کیدل نو زه هم نور ژوند نه غواړم.

مســکان پر میز پروت چاکو پورته کړ کله چي یي ځان په وهئ نو زید یي لاس ونیوئ، مســکان ډیره حیرانـه ســـول چي زید ژوندی دی، زید چي کله د مسـکان لاس ونیوئ نو تر څو شـېبو وروسته په خندا سو او چاکو یي د مسکان د لاسه وایستئ پر میز پرتو کیچپو یي ګوته ولړل او خولې ته یي ویوړل او ویزبیښل بیا یي مسـکان ته وویل: ما خو درته ویلي وه چي زه به وګورم چي تـه څنګه پـه ما ځان نـه ویني دا دی زه پـه خپل پلان کي کامیابه سوم.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مسکان تر سترګو اوښکې روانې وې بیا یې زید پورې وهڅ او ورته وېویل: بې عقله په هغه مســـخرو دا رکم مســـخرې څوک کوي دا که یوار زما زړه دریدلئ وای؟

زید په موســکا وویل: نه دریدئ ځکه ما خدای ته دعا کړیده چې خدای ماته ستا څخه مخکې مرګ راکړي.

مسکان وویل: بس چپ یې که!

تر څو شـېبو ژړا وروسـته مسـکان بې اختیاره د زید غیږ ته ور ولویدل او لاســـونـه یې بـانـدي راوګرځول تر ډیره یې ژړل خو وروسته یو دم ارامه او حیرانه سوه او بیا د زید څخه لیرې سوه وروسته د اطاق څخه په ځغاسته ووتل او ولاړل، زید په مسکان پسې نارې کړې خو مسکان ونه دریدل او کور ته ولاړل زید ډیر حیران وو چې مسـکان ولې داسـې وکړه خو بیا پوه سـو او وریاد ســوه چې مســـکان د خاوند په ســبب دده څخه ولاړه زید تر څو شېبو وروسته پریشـانه پر چوکۍ کښېنستئ او د مسکان په فکرو کې ســو، کله چې ســبا ته زید دفتر ته راغلی نو مســـکان ته په انتظار ســـو ټول کارکونکي راغله خو مســـکان رانغله زید ډیر پریشـانه وو تر ډیرو فکرو وروسته یې د عایشې د میز تلیفون ته زنګ ور ووهلئ عایشــې تلیفون اوکې کړ تر سـلام وروسـته زید وویل: عایشې ستا ملګرې چیرې ده ولې نن نه ده راغلې؟

عایشې وویل: نه پوهیږم صاحبه.

زید وویل: تا تلیفون ندی ور سره کړئ؟

عایشې وویل: یا صاحبه.

زید وویل: ته یې ماته نمبر راکړه.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

عایشـې د مسـکان نمبر ورته ووايه زید زنګ ور ووهلئ کله چې مســـکان تلیفون پورتـه کړ نو وېلیدل چې د زید نمبر دی تر څو شـېبو فکر وروسـته يې اوکې کړ تر روغبړ وروسـته زید وویل: مسکان دفتر ته ولې نه يې راغلې؟

مسکان وویل: نه پوهیږم.

زید وویل: زما څخه خوابدې يې؟

مسکان وویل: یا هغسې خبره نه ده.

زید وویل: نو څه خبره ده؟

مسـکان وویل: زیده ته پوهیږې چې زه واده سوې یم زه تاته مینه نسـم درکولای هلته تاته په نږدې اوسـیدو نغواړم چې هم ځان او هم تا خواشینی کړم چې سره لیرې یو یو څه به مو خواشینې کمه يي.

زید وویل: مسـکان داسـې مه وایه زه سـتا څخه لیرې ژوند نسـم کولای.

مسـکان وویل: زیده زما خاوند زما سـره ډیره مینه لري هغه ډیر ساده دی زه د هغه د مینې او سادوالې څخه ګټه نه پورته کوم که هغه خبر سې چې زه سـتا سره مینه کوم باوري یم چې د هغه به د ډیره غمـه زړه ودریږي زه د هغـه ســــره چم نســـم کولای ما وبخښـه زیده پر دې دنیا خو مې په نصیب نسې کیدای په اخیرت کې به د ربه یوازې تا غواړم.

زید تر څو شـېبو فکر وروسـته وویل: زه سـتا د خاوند سـره مخ سوی یم د هغه سـادوالی او اخلاق راته معلوم سویدي داسې نه د هغه سـره په چم کولو الله موږ ته په قهر سـې زه به هم دعا کوم



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې دنيا کې خو مو نصيب سره ونسو چې الله مو په هغه دنيا کې ژر تر ژره سره يو ځای کړې خو مسکان ته دې وظيفې ته راځه زه وعده درکوم چې زه به ستا سره د امکان تر حده نه مخ کيږم.

مسکان وويل: سمده درځم.

سبا ته زيد د مسکان په تمه وو چې تر څو شېبو وروسته مسکان دفتر ته راغله ټولو ته يې سلام ووايه، زيد د هغې په ليدو ډېر خوشحاله او موسکی سو وروسته يې پرده بنده کړه تر څو مسکان دی ونه ويني او دی مسکان ونه ويني، مسکان د زيد د دفتر خواته وکتل وېليدل چې زيد پرده بنده کړيده وروسته په خپل کار مصروفه سول، وختونه تيريدل زيد به هره ورځ مسکان ته په تمه وو کله چې به هغه راغله بيا به يې د کلکين پرده بندول د زيد د پرمختګ فيصدي کرار کرار راکښته کيدل ټوله ورځ به يې فکر په مسکان کې وو کار ته يې هيڅ زړه نه کيدی، يوه ورځ په دفتر کې غونډه جوړه وه د نورو کارکونکو ترڅنګ زيد او مسکان هم ناست وه، د زيد د پلار شريکانو ويل چې زموږ مشتريان يو وار بيا زموږ د توليداتو رانيول څه ناڅه کم کړيدي سبب يې تاسو څه بولی؟

ټولو کارکونکو خبرې وکړې خو زيد څه نه وويل او سر يې کښته نيولی وو لاندي يې کتل په فکرو کې ډوب وو د زيد د پلار يو شريک وويل: زيده تا په دې اړه څه نه وويل.

زيد د پلار د شريک خبره نه واوريده او همغسې په فکرو کې ډوب وو بيا پلار ور ناره کړه: ززيده!

زيد د پلار په لوړ اواز خبر سو بيا يې وويل: ها بابا.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار يي حيران سو بيا يي وويل: څه در سويدي زويه؟

زيد وويل: هيڅ نه بابا.

پلار يي وويل: سليم وايي چي زموږ د توليداتو بازار يو وار بيا راکم سويدئ په دې اړه ته څه وايي؟

د زيد فکر لا هم نه وو پر ځای مسکان پوهيدل چي د زيد فکر په دې کيدی او د کمپنۍ د توليداتو بازار چي کم سويدی هم يي سبب زيد دی مسکان پوهيدل چي زيد څه نسي ويلای چي پلار يي ورته په قهر نسي نو ځکه يي وويل: وبخښه صاحبه زه ووايم؟

د زيد پلار وويل: هو مهرباني.

مسکان وويل: کله چي زموږ توليدات مخته ولاړه نو مقابل طرف زموږ پر ضد د خپلو توليداتو نرخونه راکم کړل تر څو خلک د دوی توليدات په ارزانه بيه رانيسي او موږ تر پښو واچوي نو بايد موږ هم د څه وخت لپاره د خپلو توليداتو نرخونه راکم کړو په داسي کولو سره به مقابل طرف تر ډيره وخت په تاوان کي وي يا به هم پخپل سر سره خپل توليدات بازار ته وړاندي کوي او وروسته به دوی د يو لوی تاوان سره مخ سي مجبوره دي چي خپل توليدات بيرته په لوړه بيه بازار ته وړاندې کړي په داسي کولو سره به يوار بيا زموږ مشتريان زيات سي او د دوی د توليدات بازار به کم سي.

د زيد پلار وويل: افرين ډير ښه نظر دی همداسي به کړو.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا سلیم وویل: زیده! نن سبا تاسو هم خپل کار ته سمه پاملرنه نکوئ هیله ده په ځان کې مو تغیر راولئ او خپل کار ته متوجې و اوسئ!

تر غونډې خلاصیدو وروسته ټولو کارکونکو غوښتل ووځي نو ټول ولاړ سول او ووتل د زید پلار چې کله وتئ نو زید ته یې څه په غوسه وکتل، زید یوازې د غونډو په اطاق کې پاته سو نور ټول ووتل تر څو شیبو وروسته زید ډیر احساساتې سو یو دم یې میز ته لغتې کش کړې او چوکیانې یې سره وغورځولې، دباندې د میزو په ږغ مسکان عایشه او ټول ډیر حیران سول او د غونډو د اطاق خواته یې کتل خو چا جرأت نسوای کولای چې ورسي تر څو شیبو وروسته مسکان د اطاق خواته ورغله چې دروازه یې خلاصه کړل نو ویلیدل چې زید لاندې ناست دی شاوخوا یې د مات سوي ګیلاس هندارې پرتې دي او د زید تر یو لاس وینې بهیږي، مسکان ډیره حیرانه وه وروسته ورغله او د زید لاس یې په لاس کې ونیوئ غوښتل وینې سوئ ځای یې ور وتړې خو زید لاس ځنې کش کړ او بل طرف ته یې وکتل، مسکان بیا لاس ټینګ ځنې ونیوئ او خپل د پوړنې څخه یې یو ټوټه څیرې کړل او د زید لاس یې ور وتړئ او په خوابدتیا ځنې ووتل، زید د مسکان په پوړنې خپل تړل سوي لاس ته وکتل تر سترګو یې اوښکې وبهیدې د مسکان پوړنۍ یې مچ(ښکُل) کړ.

مسکان چې کله بیرته خپل ځای ته راغله نو ډیره پریشانه وه خپل لاسونه یې پر سر نیولي وه لاندې یې کتل چې عایشې یې پر اوږې لاس ور ونیوئ بغلته یې کښینستل ورته ویویل: مسکان ښاغلی بیا پر څه شي دردیدلی وو؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسـکان اوږده سـاه واخیسـتل بیا یي وویل: نه پوهیږم څه وکم او پایله به مو څه یي؟

عایشــې وویل: مســکان فکر کوم ښـاغلی به بیا تیر وخت ته ولاړ سي.

مســـکان وویل: دی خو به ځي چي ځي ترڅنګ به یي زه هم ور سره تللې یم.

سـباته زید دفتر ته نه راغلئ بیده وو مســکان ورته په تمه وه خو زید د ورځې تر پایه نه راغلئ مسکان ډیره پریشانه وه خو د سبا په تمه سـوه خو سـبا ته هم زید معلوم نسـو دریمه ورځ هم معلوم نســو، مســکان چي کله په دریمه ورځ کور ته تله نو ټېکســې ته وختل کله چي ټېکســې څه مخته ولاړه نو د مســکان ســترګې پر زید ولګیدې چي څه بل رکم روان وو او په پارک ننوتئ، مسکان ټېکسیوان ته وویل: وروره موټره ودروه!

کله چي موټر ودریدئ نو مســکان کښــته ســول او پارک ته ور ننوتل کله چي څه مخته ولاړه نو زید یي ولیدئ چي پر یو چوکۍ ناسـت دی او زیات ټوخیږي او د ډیره ټوخې یي مخ سـور سـوی وو، مسـکان د زید خواته ورغله کله چي هغه ته ور ورسـیدل پر اوږه یي لاس ور کښیښوئ ورته وېویل: زیده!؟

زید د ټوخې په حالت کي مســکان ته وکتل وروســـته یي مخ ور څخه واړوئ بیا مسکان وویل: زیده! ته خو به ښه یي؟

زید د ټوخې په حالت کي د هو په اشـاره سـر وښـوروئ چي سـم یم، بیا مسکان ولاړه زید ته یي اوبه راوړې کله چي زید وڅیښلې او څه سم سو مسکان ورته وویل: څه در سویدي؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زید په موسکا او د نشې په حالت کې وویل: هلته څو کسان ناست وه په سګریټو کې یې نشه راکړه.

مســکان په دې ســره ډېره حیرانه ســول بیا یې په حیرانتیا وویل: څه؟ تا نشه کړیده؟

زید وویل: هو.

مســکان په غوســه ولاړه ســوه او د هغو خلکو پر طرف ورغلل کلـه چې هغو تـه ور ورســـیده نو هغوی پـه ســــګریـټ څکولو مصروف وه مسکان هغو ته وویل: ای بې عقلانو کوځه ډبو تاسو خو په دې نشـو خپل دنیا او اخیرت خراب کړیدي نو د نورو دنیا او اخیرت ولې ور خرابوئ؟

د نشیانو څخه یوه وویل: خو ده ویل چې سخت پریشانه او غمجن یم مور ورته وویل راســـه دا ســـګریټې څکول دې غمونه لیرې کوي چې وبېځکوې د دنیا تر ټوله خوشحاله انسان به سې.

مسکان بیا په غوسه وویل: چپ سه بې عقله!

نشــیان ولاړ ســول یوه یې د مســکان پر طرف ور روان ســو په غوســـه یې مســـکان ته وویل: ســـتا خوله ډېره تیزه چلیږي ســـتا خو....

هغه نشیې غوښتل مسکان په چپلاخه ووهې چې په دې وخت کې زید پر راوڅغستل او هغه یې پر مخ په سوک ووهئ او هغه نور نشیان یې هم سره پورې وهل او وېغورځول هغو ټولو وځغستل او ولاړل، مســکان هم غوښــتل چې ولاړه ســې خو زید تر لاس ونیول.

مسکان په غوسه وویل: زما لاسه ایله که!



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيد وويل: مسكان هيله کوم.

مســـکان بيرته د هغه طرف ته مخ واړوی او په ژړا يي ورته وويل: ولي مي په داسـي کړونو د ژوندده دوزخ را جوړوی د کله چي مي ژوند ته راغلی يي ژوند مي نـا ارامـه ســويدی په هر لحظه کي ستا په ياد کي سوځل کيږم.

زيد په ژړغوني اواز وويل: مســـکان! زما په واک کي ندي څه وکم ته شايد ددي حالاتو سره مبارزه وکولای سـې خو زه ورته مات يم دې حالاتو ته.

مســکان وويل: چي مبارزه ونکړو بله لار نلرو زيده! څکه تقدير همدې لارې ته درولي يو چي نه مختته تلای ســو نه شـاته زه خاوند ته په دوکې ورکولو تا نسم تر لاسـه کولای که مي داسـي وکړه نو الله به راته په قهر ســي او ســتا ددې مشــکلاتو څخه د خلاصون يوه لاره دا ده چي زه نور ستا سره نه مخ کيږم.

زيد وويل: يا مسکان داسې مکوه زه ستا مشکل درک کولای سم خو زما د سترګو مه پناه کيږه خير دی.

مسکان په ژړا وويل: زه سـتا په خاطر وايم زيده زه خو حالات زغمم چي په هر حالت کي يم خو زما سره ستا فکر دی.

زيد وويل: يا زما فکر مکوه خو زما څخه مه ليري کيږه.

مسکان وويل: سمده په يوه شـرط هغه دا چي ته به د پخوا پځير کيږې بيرته به خپلي وظيفي ته ځې او په خندا به ژوند کوې هغه که زه در سره يم يا نه خو ته به پريشاني نکوې.

زيد وويل: سمده زما قبوله ده.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسـکان وويل: اوس ورسـه حمام وکه او بيا کور ته ولاړ سـه که دې پلار په دې حالت کي وليدلې نو زړه به يي مات سي.

زيد وويل: سمده.

وروسته دواړو خدای په امانی سره واخيستی او ولاړل، مسکان تر څو شــېبو وروســـتـه بيرته زيد ته وکتل او ورناره يي کړه: زيده!؟

زيد مخ ورته راواړوی ويويل: ها.

مسکان په موسکا وويل: هيڅ نه.

زيد روان سـو او مســکان مخ واړوی پر مخ يي اوښــکې جاري سوې د ځان سره يي وويل: که تقدير بدليدلای زيده ما به تر ټولو اول دا فيصـــله بدله کړې وای چي د بل يم او ته مي په نصـــيب سـوی وای او ټول عمر مي داسـي مينه درکړې وای چي هر غم او درد دي هير سوی وای.

د سهار لمر خپلي وړانګې پر مځکه خپرې کړې مرغانو په خپلو خوږو سـندرو سـهارګاه ته ښـه راغلاسـت ووايه خلک د ژوند د تير لپاره خپلو کارو پســي ووتل مســکان هم دفتر ته د تلو لپاره امـادګې ونيول او د دفتر پر خوا روانـه ســـول، کلـه چي دفتر تـه ورســيدل نو لومړی د زيد د اطاق پر خوا وکتل خو زيد يي هلته ونه ليدئ، مسـکان لويه سـاه واخيسـتل او پريشـانه پر خپل چوکۍ کښينستل خو تر څو شېبو وروسته يي وليدل چي زيد راغلی دی او د کاريګرو سره په بل اطاق کي مصـروف وو، مسکان د هغه په ليدو موسـکۍ سـوه وروسـته يي په خپل کار شـروع وکړه، تر



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځو ورځو وروسته مسکان سهار غوښتل چي دفتر ته ولاړه سي چي خاوند يي ور بږغ کړه: مسکان؟

مسکان وویل: ها؟

خاوند يي وويل: زه ستاسو د دفتر خواته ځم زما سره ولاړه سه زه به دي تر هغه ځايه ورسوم.

مسکان وويل: يا مننه ته تکليف مکوه.

خاوند يي وويل: يا خو زه اغسي هغې خواته ځم.

مسکان وويل: سمده چي ستا خوښه يي.

تر ځو شيبو وروسته مسکان او خاوند يي پر موټرسيکل د دفتر خواته روان سول، زيد د استراحت په اطاق کي وو چي مسکان او خاوند يي دفتر ته راورسيدل، زيد سر پر سوپا ايښی وو چي يو دم يي مسکان او خاوند ته ور پام سو، د هغو په ليدو يي سر د سوپا څخه پورته کړ او د مسکان او خاوند پر طرف يي زير زير کتل، د مسکان خاوند هغې ته په مينه او موسکا خدای په امانی ووايه مسکان هم په مينه او موسکا خدای په امانی ځني واخيستی او د دفتر پر خوا روانه سول، کله چي دفتر ته نږدي سول نو زيد يي وليدی چي دې ته يي کتل، مسکان ډيره پريشانه سول او د ځان سره يي فکر وکړ چي زيد به څه فکر کړی وي، زيد ډير پريشانه وو او ټوله ورځ د استراحت د اطاقه نه راووتی، کله چي مازديګر او لمر مخ پر لويدو سو نو ټول کار کونکي د دفتر څخه ووتل، مسکان هم د عايشې سره روانه سوه خو فکر يي په زيد کي وو ورتلای ځکه نسوای چي کارکونکي ورباندي غلط فکر ونکړي، کله چي ټول دباندي ووتل نو مسکان فکر وکړ چي



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

یواری به د زید احوال واخلم نو ځکه یي عایشې او نورو ملګرو ته وویل: تاسو درځی زما تلیفون دننه پاته سویدی.

ټول ولاړل مسکان بیرته دفتر ته ورغله او د استراحت اطاق ته ور داخله سوه کله چي هلته ورغله نو وېلیدل چي زید ډیر زیات سګریټ څکولي دي او سترګې یي ډیر سرې سویدي د سوپا مخته ګیلاسونه هم مات سویدي، ددي په لیدو مسکان ډیره حیرانه او پریشانه سول او زید ته سخته په غوسه سول، زید هم د هغې په لیدو حیران وو، تر څو شېبو ژړا ورروسته مسکان په غوسه د اطاق څخه ووتل، زید هم په هغې پسې ور ووتی او تر څه تګ ورروسته یي مسکان تر لاس ونیول تر څو وې دروي، خو مسکان ونه دریدل او په زور یي خپل لاس د زید څخه کشوی بیا یي په لوړه چغه او ژړا وویل: پریږده زما لاس!

زید د هغې لاس ایله کړ مسکان د دفتر څخه ووتل او ولاړل، زید پر ګونډو سو او په ژړا یي پیل وکړ تر څو شېبو ژړا ورروسته یو دم چپ سو او د کور پر طرف روان سو کله چي یي ماښام حمام وکړ او سترګې یي د اوښکو څخه پاکي کړې بیا پلار ته ورغلی او تر څنګ یي کښېنستی وېویل: بابا زه غواړم نور ددي هیواده ولاړ سم.

پلار یي حیران سو بیا یي وویل: څه؟

زید وویل: بابا زما ګزاره نوره دلته سخته سویده زه غواړم یو بل هیواد ته او ددي ځایه لیري ولاړ سم.

پلار یي وویل: څه خبره ده زویه خیریت دی؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زید وویل: هو بابا خیریت دی خو بس نور مي دلته حالت وار په وار پر خرابیدو دی ته چي ما هر هیواد ته اســتوي قبول مي دی زه به هلته خپل کار پرمخ وړم.

پلار یي وویل: زیده! ته خو به په حال کي یي زویه؟

زید وویل: هو بابا په حال کي یم او په پوره هوښ مي دا فیصـــله کړیده هیله کوم بابا ما واستوه.

پلار یي وویل: زویه تا داســـي څه وویل چي زه دي هک حیران کړم چي زه اوس څه ووایم.

زید وویل: بابا ما د کاکا ســره څو شــېبي مخکي خبره وکړه هغه ویل راســه که ستا خوښــه وي زه به هلته ورسم په هغه هیواد کي به د کاکا سره کمک کوم.

پلار یي وویل: ســـمده چي خوښـــه دي یي زویه خو ته به هلته یوازي ژوند څنګه کوې؟

زید وویل: د ځینو یادو سره به سخت وي خو بابا دلته ژوند ماته ډیر سخت سویدی.

پلار یي وویل: زویه څه مشـــکل دی ماته ووایه چي په هر ډول یي زه ستا هغه مشکل او غوښتنه د رب په مرسته در حل کومه.

زید وویل: بابا زما داســـي غوښـــتنه ده چي په هیڅ ډول نه حل کیږي او نه هم غواړم چي حل یي کړم پر دي دنیا به یي صــرف د یادو سره ژوند کوم.

پلار یي وویل: ښــه ښــه پوه سوم چي د انجلۍ کیســه ده ښــه ووایه څوک ده هغه چي همدا اوس یي پلار ته زنګ ووهم او ستا خبره ور سره وکم چي په هر ډول یي راضي کوم به یي ستا لپاره؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زید پلار ته د خان او د مسکان د میني په اړه هر څه وویل خو د مسکان نوم یي ندی ورته ویلی بیا یي پلار اوږده ساه واخیستل او وېویل: رښتیا هم زویه دا ناممکینه ده بلکې غلط کار هم دی چي ته د هغې سره مینه کوې ځکه هغه یو واده کړل سوې ښځه ده دا بدبختي خو زموږ په ټولنه کي سته چي د لور یا خور څخه تر ډیره پوري د هغې د خوښي او ناخوښي پوښتنه نکوي چي څوک دي د ژوند د ملګري په جوړیدو خوښ دی هغه خبره هم نه یي دوی یي بیا د ژوند د تړون خبره پخه کړې وي چي کله د نکاح وخت سي نو د قبولیت ځکه هو وایي چي د پلار او ورور عزت، مقام او شملې او د مور پوړنی یي بدنامه یا کښته نسي تر واده وروسته یي زړه مات یي ژوند یي تریخ یي خو خیر الله دي زموږ دا خراب کلتور ورک کړي.

بیا د زید پلار وویل: سمده زویه چي ستا خوښه یي اغسي وکه.

زید د پلار څخه مننه وکړه او بیا د خپل اطاق پر طرف ولاړی، کله چي سهار سو تر حمام کولو وروسته زید خپل د کالو بسته تیارول.....،

مسکان چي کله د روغتون څخه راغله نو حمام ته ولاړه ولمبیدل کله چي د حمام څخه راووتل وېلیدل چي خاوند یي پر سوپا باندی ناست دی تلویزیون ګوري، مسکان د شاه له طرفه په خندا د خاوند پر اوږو لاسونه ور کښیښول او پر سر یي ښکُل کړ، خاوند یي هم پخپل لاس د هغې سر ونیوی او ځانته یي راکش کړه او پر تندي یي ښکُل کړه، مسکان وویل: زه ځم استراحت کوم کم څه ته خو به ضرورت نه یي چي درته تیار یي کړم؟

خاوند یي وویل: یا ګراني مننه ورسه استراحت دي وکړه.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسکان وویل: سمده.

مســکان د اطاق پر طرف روانه ســول کله چي اطاق ته ننوتل نو په دروازه کي ودریدل خاوند ته یي وکتل تر سـترګو یي اوښـکې رواني سوې او تر څو شیبو وروسته بیرته اطاق ته ننوتل، زید د کورنۍ ســره تر لیدو څو شــیبې وروســته په روغتون کي ســاه ورکړل مړ ســـو، د هغه پر مړینه یي کورنۍ زیات وژړل د زید پلار په خپل لاس د زید ســترګې ور پټې کړې او پر مخ او تندې یي ښـکُل کړ، د مســکان خاوند لا هم تلویزیون ته ناسـت وو چي تر څو شــیبو وروســته پر تلویزیون د عاجل خبر خبر راغلی، د مســـکان خاوند هم څنګ ایله کړ کښــینســتی چي دا عاجل خبر ووینې چي څـه خبره ده، کله چي خبر راغلی نو خبریال وویل: د ښـار د مشـهوره تجار سلطان زوی زید نن سهار زهر خوړلي وه او اوس یي روغتون کي ساه ورکړل.

د مسـکان خاوند ډیر حیران سـو او پوه سـو چي دا هغه ځوان دی چي دی ور ســره مخ ســوی وو او مســکان د دوی په کمپنۍ کي کار هم کوي.

بیـا خبریـال وویـل: د هغـه کورنـۍ وایي چي د هغـه د ځـان وژنـي سبب معلوم ندی چي هغه ولي ځان وژنه وکړل.

د مسـکان خاوند تر دې خبر اوریدو وروسـته تلویزیون بند کړ او غوښتل یي چي مسکان هم ددې خبره خبره کړې، کله چي د هغې اطـاق تـه ور ننوتی نو وېلیدل چي مســـکـان مخ د کلکین خواتـه کړیدی او په سـوپا کي ناسـته ده د دروازې خواته یي شـا کړیده، خـاونـد یي وویل: مســـکان هغه ته چي په کمپنۍ کي کار کوې د هغه کمپنۍ د مشــر زوی ځان وژنه کړیده ډیر ښــه ځوان وو زه



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ور سره مخ سوی وم نه پوهیږم چي ولي يي داسـي وکړه تا هغه لیدلی وو مسکان؟

مســـکان د خاوند پوښـــتني ته جواب نه ورکړ بیا يي خاوند ور نږدي سو وېویل: مسکان؟

مســـکان بیا ږغ ونکړ خو کله چي يي دریم وار ورناره کړه او لاس يي د هغې پر اوږه د هغې د خبرولو لپاره کښــیښــوی نو مســکان پر یوه خوا راچپه ســول او د لاســه يي د زهرو بوتل ولویدی.

خاوند يي حیران سو کله چي د هغې مخته ورغلی او سره و يي ښورول نو وېلیدل چي مسکان مړه سوېده.

**پای**



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لیکوال نور ناولونه او کتابونه

- عاشقي ناول
- نارنج کلا ناول
- تیر یادونه ناول
- زموږ. نیمګړې مینه ناول
- حیثیت ناول
- کندهار اتل ناول
- کوډې په اسلام کې
- ښځه په اسلام او غرب کې
- نفلي لمونځونه او فضلیتونه یې



Scanned by CamScanner

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**